# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

لسم کال، یوسلو شلمه ګڼه د ۱۳۹۶ کال د غبرګولي میاشت

د افغانستان بانک

1.1 ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ
(ربعه په ربعه د بدلونونو سلنه)




## د ۲۰۱۶ میلادي کال په دویمه ربعه کې د نړۍ اقتصادي وضعیت



## د افغانیو کارول او دودول د ملي اقتصاد په پیاوړتیا مثبت اغیز کوي

لیلام اوراق سرمایوی بابت سال مالی ۱۳۹۵
ارقام به میلیون افغانی




## مختصری پیرامون روند لیلام اوراق سرمایوی د افغانستان بانک

د افغانستان بانک

# اطلاعیهٔ د افغانستان بانک!

**د افغانستان بانک به اطلاع هموطنان عزیز می رساند که به اساس ماده سی و نهم قانون د افغانستان بانک، بانکنوت های را که:**

روی آن نوشته و یا نقاشی شده باشد





مهر خورده و یا سوراخ تسلسلی داشته باشد





شسته شده باشد و یا از اثر پاشیدن تیزاب و سایر مواد کیمیاوی دیگر تخریب شده باشد.





ماده چسپدار روی آن بکار رفته باشد



در تمام نمایندگی های د افغانستان بانک و بانک های تجارتی بدون تادیه کدام فیس با بانکنوت های قابل استفاده تعویض نمایند.

د افغانستان بانک بعد از ۳۱ اسد ۱۳۹۶ بانکنوت های با مشخصات فوق الذکر را بدون معاوضه مصادره می نماید.

**یادداشت مهم: بانکنوت های که در اثر استعمال مندرس و اسکاشتیپ شده، قابل چلند میباشند.**

۰۲۰۲۱۰۲۲۰۷
۰۲۰۲۱۰۲۲۰۹

**پول افغانی؛ نشانهٔ افتخار، اقتدار و هویت ملی ماست!**

# بانک


صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حمیدالله فیضی، عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: آمریت عمومی اسناد و ارتباط، د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحۀ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارۀ ثبت: ۶۵۸


www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+

## د دې ګڼې مطالب


استفادۀ درست از پول افغانی، از مندرس شدن زود ...

د مبایل له لارې د معاشونو د ورکړې پروژې پلي...

د افغانستان بانک او بانکونو تړولې ترمنځ د پور ...

د افغانیو کارول او دودول د ملي اقتصاد په پیاوړتیا ...

د افغانستان بانک د مجلې کلنۍ لاسته راوړنو ته ځغلنده ...

مختصری پیرامون روند لیلام اوراق سرمایوی د ...

د ۲۰۱۶ میلادي کال په دویمه ربعه کې د نړۍ اقتصادی ...

تجارت آزاد و منفعت آن به کشورها

د نړۍ اقتصادي خبرونه

د محدودو مالي سرچینو په شتون کې اقتصادي خوځښت

نگاهی مختصر به شکل گیری بانکها

د زعفرانو د کښت وده کولی شي کرنیزسکتور پرمختللی...

د شاخص عدد Index Number څه ته وایي؟

نگاه اجمالی به پیدایش کارت های اعتباری



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "مجله بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسندگان آن بر می گردد، همچنان استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



## استفادۀ درست از پول افغانی، از مندرس شدن زود هنگام آن جلوگیری می کند

پول افغانی وسیله مبادله در داد و ستد و خریدو فروش ما افغان هاست. مطابق بند چهار مادۀ دوم قانون د افغانستان بانک، چاپ و نشر پول کاغذی و ضرب مسکوکات فلزی افغانستان از وظایف اساسی این بانک است. طوریکه میدانیم برای ضرب مسکوکات و چاپ بانکنوت ها پول زیادی از بودجه دولت هزینه می گردد، اما متاسفانه در حفظ و نگهداشت درست از آن سهل انگاری صورت گرفته که این روند سبب می شود تا پول افغانی قبل از زمان معینه مندرس و فرسوده گردد.

طوریکه ملاحظه میگردد، بانکنوت های افغانی در بازارها به شکل نامناسب در دوران اقتصادی قرار داشته و بسیاری از مردم اهمیت چندانی به نحوه نگهداری پول نمی دهند. تعدادی از هموطنان ما بانکنوت ها را منحیث کتابچه یادداشت و تعدادی منحیث دفترچه نمرات تیلفون استفاده نموده و تعدادی هم در آن رسامی می نمایند، در این میان تعداد دیگر از مردم علاقه ای به استفاده از بکس جیبی ندارند و آنرا به بدترین وجه در خرید و فروش استفاده می نمایند که به همین دلایل بانکنوت های افغانی قبل از موعد معینه فرسوده شده و از دوران پولی خارج می گردند.

هر چند د افغانستان بانک در قسمت فرهنگ سازی و تنویر اذهان عامه در قسمت استفاده درست از پول افغانی در داد و ستد تلاش نموده است، ولی هموطنان ما با شیوه های بهتر می توانند در حفظ و نگهداشت آن کوشا باشند. بهترین شیوه جهت نگهداری بانکنوتها، استفاده از بکس جیبی است که با آن می توانند پول ملی ما را بصورت خوب و بهتر در داد و ستد بکارگیرند.

در صورتیکه اتباع کشور در حفظ و نگهداشت پول افغانی بیشتر تلاش نمایند، می توان به عمر آن افزود و از پولی که بالای چاپ مجدد آن هزینه می شود، جلوگیری و آنرا در راه های دیگری جهت رشد و توسعه زیربناهای اقتصادی و سایر پروژه های اقتصادی کشور هزینه کرد.▣



# د مبایل له لارې د معاشونو د ورکړې پروژې پلي کېدو ارزونه

کابل، د ۱۳۹۶ کال د غبرګولی ۲۷- د افغانستان بانک تر مشرۍ لاندې له مخابراتی کمپنیو روشان او افغان بیسیم چارواکو سره د معاشونو ورکړه د مبایل له لارې د افغانستان بانک په تالار کې تر ارزونې او څېړنې لاندې ونیول شوه.

په دې غونډه کې لومړی په دې اړه د پلټونکي پلاوي راپور واوریدل شو، وروسته له هغې د روشن کمپنۍ (ام پیسه) استازې د خبرو پرمهال وویل چې تل هڅه شوې، چې د دولتي کارکوونکو معاشونه د مبایل له لارې په ښه او اسانه توګه ورکړل شي او دا پروسه د کار او ټولنیزو چارو وزارت څخه په ازمایښتي ډول پیل شوې ده، اوس مهال د کار او ټولنیزو چارو وزارت ۴ زره کارکوونکي لدې لارې معاشونه ترلاسه کوي.

په همدې حال کې د افغانستان بانک رئیس محترم خلیل صدیق د خپلو خبرو په ترڅ کې لارښونه وکړه، چې لومړی باید د مبایل له لارې د کارکوونکو د معاشونو د ورکړې سیستم یو ځل بیا و ارزول شي او شته ستونزې هوارې شي.

دویم: د مبایل له لارې د معاشونو د ورکړې سیستم کې اسانتیاوې رامنځته شي او عزیزي بانک ته یې لارښود وکړ، چې ټولو ځانګو کې د مبایل له لارې د پیسو د ورکړې په موخه کسان ډیر شي، چې په ښه توګه پولي راکړې او ورکړې ترسره کړي.

ښاغلي صدیق زیاته کړه، د مبایل له لارې د پیسو د لیږد فیس یا چارچ باید لږ شي، څو دولتي کارکوونکي ډیر زیان ونکړي او د دې ترڅنګ د کار او ټولنیزو چارو وزارت باید د مبایل له لارې د معاشونو د لیږد ښه نمونه وي، چې ډیرۍ خلک لیوالتیا پیدا کړي، څو د دې سیستم له لارې راکړې او ورکړې ترسره کړي.

په داسې حال کې د مبایل له لارې د معاشونو د ورکړې د سیستم په پلي کېدو خبرې کیږي، چې د ام پیسه د پیسو په لیږد کې د اسانتیاوو ترڅنګ د څارنې او تفتیش لپاره ښه سیستم دی، چې کولی شي په اداراتو کې د فساد مخنیوي هم وکړي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د روشن او افغان بیسم شرکت د استازو ترڅنګ د ولسمشر تخنیکي سلاکار روف الدین ملکزي او د کار او ټولنیزو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال لعل آریوبي هم ګډون کړی وو.▣

# د افغانستان بانک او د بانکونو د ټولنې ترمنځ د پور ورکونې په مقررې خبرې اترې وشوې



د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د بانکونو د ټولنې له مشر ښاغلي نجیب الله امیري او د بانکونو له استازو سره د پور ورکولو په مقررې د غبرګولي په ۲۳ مه خبرې اترې وکړې.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر وویل چې د افغانستان بانک تل په مالي سکتور کې د پرمختګ په موخه له بانکونو سره سلا مشورې کوي او د خصوصي بانکونو لپاره لارښونې او مقررې تصویبوي، څو خصوصي بانکونه وکولي شي په خوندي او قانوني فضا کې خپلو مالي راکړو او ورکړو ته دوام ورکړي.

د خصوصي بانکونو استازي هیله وښوده، چې د افغانستان بانک له خوا د پور ورکولو په تصویب شوې مقرره، بیاځلي کتنه وشي. خو د افغانستان بانک مشریزي پلاوي او د نظارت لوی آمریت ژمنه کړې، چې د دې مقررې له ارزیابۍ او پلټنې وروسته به دا مقرره د افغانستان بانک له عالي شورا سره شریکه کړي او وروسته له غور او بررسۍ به په راتلونکې غونډه کې ورباندې پریکنده پریکړه وشي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک، د مرکزي بانک په توګه له دولتي او خصوصي بانکونو څخه د ښه نظارت په موخه له بانکونو استازو سره بېلابېلې غونډې ترسره کوي، څو وکولي شي د بانکونو کړنې وڅاري او د دې ترڅنګ خصوصي بانکونو ته هم په مالي راکړو او ورکړو کې اسانتیاوې رامنځته کړي.▣

# د افغانیو کارول او دودول د ملي اقتصاد په پیاوړتیا مثبت اغیز کوي



افغانۍ د افغانستانو ملي هویت او ملي اقتدار ښکارندوی دی او دا پیسې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د چلښت وړ دي، خو په خواشینۍ سره باید وویل شي، چې د افغانستان په یوشمیر سرحدي ولایتونو او سیمو کې، چې له ګاونډیو هېوادونو پاکستان او ایران سره په پوله پرتې دي او یاهم لدې هېوادونو سره اقتصادي راکړې ورکړې لري، دافغانیو پرځای پاکستاني کلداري او ایراني تومان کارول کیږي.

د افغانستان بانک تل هڅه کړې ده، چې ټول هېواد وال له افغانیو کار واخلي او په دې سره د بهرني اسعارو د کارولو مخه ونیول شي، خولاهم په ځینو سیمو کې خلک له بهرنیو اسعارو کار اخلي، د یادونې وړده چې دافغانۍ پیسې دودول یوازې او یوازې د افغانستان بانک دنده نه، بلکې د افغانانو ملي وجیبه ده.

افغانۍ پېسې د هېواد والو ملي هویت او پیژندنه ده، نو راځئ چې لاسونه سره ورکړو او د افغانۍ کارول او دودول خپل اخلاقي رسالت وګرځوو.

د افغانستان بانک د افغانۍ د دودولو او د بهرنیو اسعارو د کارولو مخنیوي په موخه بیلابیل ښونیز ورکشاپونه او غونډې ترسره کړي او خلکو ته یې عامه پوهاوی ورکړی، چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې په ټولو اقتصادي راکړو او ورکړو کې افغانۍ وکاروي.

که څه هم په افغانۍ پیسې د راکړې او ورکړې زیاتوالی د ملي اقتصاد د پیاوړتیا لوی لامل ګڼل کیږي، ځکه د یو هېواد ملي اقتصادي پیاوړتیا او د پولي واحد ارزښت د هغه هېواد له اقتصاد سره تړلې دي. تولیدات او صادرات هم د اقتصادي پیاوړتیا او د هغه هېواد د ملي کرنسي د ارزښت له ثبات سره مرسته کوي.

دچارو کارپیژاندي ټینګار کوي، چې دافغانیو دودول د خلکو له ژمنتیا او کلکې ارادې سره نیغ په نیغه اړیکې لري، ځکه د افغانانو پریکنده پریکړه کولی شي، چې د بهرنیو اسعارو کارونه پای ته ورسوي او پرځای یې له خپلو ملي پیسو څخه ګټه واخیستل شي.

**دافغانیو دودولو لپاره څو مهم ټکي:**

۱ – د افغانستان تولیداتو وده او اقتصادي ځان بساینه کولی شي د بهرنیو اسعارو دکارونې مخنیوی وکړي، ځکه ډیری سوداګریز توکي له بهر ایران او پاکستان

»

څخه راوړل کېږي او سوداګر هڅه کوي، چې معلومه ګټه ولري، نو د دې لپاره زړه نه ښه کوي، چې خپل راوړل شوي توکي په افغانيو وپلوري.

۲ – که افغانستان خپل توليدات ولري او د صادراتو کچه هم لوړه شي ، له يوې خوا به راکړه او ورکړه په افغانيو ډېره شي، ځکه د نړيوالو سوداګريزو قوانيو له مخې بهرني سوداګر اړ دي چې افغانۍ توليد په افغانيو پيسو ترلاسه کړي. له بل پلوه به د بې کارۍ کچه راکښته شي، کرهڼه او پوهنه به غښتلې او د افغاني بانک نوټونو پرکارولو به مثبت اغيز وکړي.

۳ – دافغانيو کارول د ملي اقتصاد له پياوړتيا سره مستقيمه مرسته کوي، د دې لپاره چې په راتلونکې کې پياوړی اقتصاد ولرو او افغانستان هم ځان بساينې ته ورسوو، افغاني توليدات بايد زياتوالی ومومي خلك هم بايد افغانۍ وکاروي.ددې لپاره چې دافغانۍ کارول اقتصادي ثبات او وده رامنځته کوي.

۴ – افغانان بايد د ملي وجيبې پربنسټ هڅه وکړي چې په لويو اقتصادي راکړو او ورکړو کې افغانۍ وکاروي، ځکه افغانۍ ملي ارزښت دی او دا ارزښت هڅه مهال خپل ځای پيدا کوي چې د هېواد دننه ټولې اقتصادي معاملې تر خپل اغيز لاندې راولي.

که چيرې دولت د پاکستان او ايران ترڅنګ له نورو هيوادونو په ځانګړي توګه له منځنۍ آسيا سره اقتصادي راکړو او ورکړو ته پراختيا ورکړي، کيدلی شي له يوې خوا د صادراتو او وارداتو لړۍ پياوړې شي او له بل پلوه دافغانيو لا کارولو لپاره لارې چارې برابرې شي.

د يادونې وړ ده چې اوسمهال د افغانستان په يو شمير ولايتونو او سيمو کې پير او پلور په کلدارو سرته رسيږي او همداراز بيا د ځينې نورې سيمو خلك راکړې او ورکړې په تومانو ترسره کوي. خو پکارده چې دبهرنۍ کرنسۍ پرځای خپل ملي هويت ته درناوی وشي.

د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د افغانيو کارولو او دودولو لړۍ پياوړې شي او ډېرۍ افغانان هڅه کوي چې خپلې راکړې او ورکړې په افغانيو ترسره کړي او د دې ترڅنګ پلورونکي هم ترخپله وسه ټينګار کوي، چې دافغانيو په کارولو سره خپل ملي رسالت ادا کړي.

د ملي ارزښت او ملي هويت د پياوړتيا او غښتلتيا په موخه ټول افغانان اړ دي، چې په اقتصادي راکړو او ورکړو کې له افغانۍ پيسې ګټه پورته کړي.

د افغانستان ملي پيسې، چې افغانۍ بلل کيږي، په لومړي ځل په ۱۲۹۸ کال کې د شاه امان الله خان د واکمنۍ پر مهال چاپ شوې او د راکړې او ورکړې لپاره بازار ته وړاندې شوې دي. ملي کرنسۍ د اقتصادي غوښتنو او د وخت له اړتيا او تقاضا سره هم مهاله د افغانستان بانك له خوا چاپ اوخپرېږي.▣

**حميدالله فيضي**




# د افغانستان بانک د مجلې کلنۍ لاسته راوړنو ته ځغلنده کتنه

د افغانستان بانک میاشتنۍ مجله د خپل لس کلن مځل په ترڅ کې د افغانستان بانک ټولې کړنې او فعالیتونه له هېواد والو سره شریک کړي دي. له ستونزو سره سره دا نشراتي ارگان توانیدلی، چې خپله نشراتي دنده په ښه توگه ترسره کړي، چې ورځ تر بلې يې لوستونکي او مینه وال مخ په ډېریدو دي. د افغانستان بانک میاشتنۍ مجله د ۱۳۸۶ کال په چنگاښ میاشت کې دوهم ځل لپاره فعالیت پیل کړ، چې په دې بهیر کې د اقتصادي راپورونو سربیره ، مقالې او اقتصادي تحلیلونه د ۱۲۰ گڼو په ترڅ کې خپلو مینه والو ته چاپ او ډالۍ کړي دي. د اسنادو او اړیکو آمریت د خپرونو مدیریت له قلمي همکارانو څخه مننه، چې په دې لس کلن بهیر کې د افغانستان بانک د میاشتنۍ مجلې ملتیا کړې ده.

په همدې بنسټ د افغانستان بانک د اسناد او اړیکو آمریت د خپرونو مدیریت وغوښتل، چې د تېر یوه کال فعالیتونه په دې لنډه لیکنه کې را ونغاړي.

د افغانستان بانک هر درې میاشتې وروسته د چارو د ارزونې په موخه د افغانستان بانک عالي شورا غونډه ترسره کیږي، دویمه غونډه یې د ۱۳۹۵ کال د چنگاښ په ۲۲ او ۲۳ نیټې د افغانستان بانک د لوی رییس ښاغلي خلیل صدیق په مشرۍ او د عالي شورا د غړو په گډون د افغانستان بانک په مقر کې جوړه شوه. د دې غونډې موخه د څارنیزې برخې، د مالي نظام ټیکاو او ټینگښت، د انفلاسیون نرخ، د مدیریتي چارو او د تېرو دریو میاشتو د لاسته راوړنو او کړنو راپورونو ارزول وو.

د افغانستان بانک د عالي شورا بله غونډه چې د لړم د میاشتې په ۸ او ۹ نیټه ترسره شوه، د تېرو شپږو میاشتو د کړنو د
»

ارزونې ترڅنګ یې ۵ کلن ستراتیژیک پلان وڅېړه او د پلي کیدو په موخه یې اړینې لارښونې وکړې.

دغه راز د افغانستان بانک عالي شورا په بله غونډه کې د افغانستان بانک د عالي شورا مشر ښاغلي خلیل صدیق د تېرو کړنو د ارزونې ترڅنګ ټینګار وکړ، چې د پولي سیاست په پلي کیدو سره د ۱۳۹۵ کال په ترڅ کې د مبادلې نرخ ټیکاو ساتلی او د هغه نوسانونه یې راکم کړي دي.

د افغانستان بانک عالي شورا په دې غونډو کې د پولي سیاست پلانونو تر ارزونو سربېره د افغانستان بانک بیلانس شیټ، چې د بهرنیو تفتیش کوونکو له خوا د نړیوالو معیارونو سره سم څېړل شوی وو، او هغه یې کره، پاک او د منلو وړ ګڼلی وو پرې بحث وشو او د افغانستان بانک کارکوونکو ته د لا پرمختګ او ښو کړنو په اړه لازمې لارښونې وشوې.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۵ کال وروستی عالي شورا غونډه کې د ۱۳۹۶ کال د لومړۍ ربع د پولي سیاست پلانونه ډېر ښه ارزیابي شول او د ۱۳۹۶ کال لپاره یې د پولي سیاست پلانونه تایید کړل او د هېواد بانکي سیستم تر څېړنې او ارزونې لاندې ونیوه.

د افغانستان بانک د غوره سیاستونو په درلودو او ضوابطو ته په لومړیتوب ورکولو سره، د ژمنو او وړ کسانو د ګمارلو په لړ کې ښاغلی واحدالله نوشیر ولسمشرۍ ماڼۍ ته وړاندیز کړ، چې د جلالتمآب ولسمشر محمد اشرف غني له تایید وروسته د مرغومې په ۱۸ د افغانستان بانک لومړي مرستیال په توګه دنده ترلاسه کړه.

ښاغلی واحدالله نوشیر په بانکي او مالي چارو کې د تجربې په درلودو سره د بانکدارۍ په برخه کې د بریټانیا څخه د ماسترۍ اسناد لري او مخکې ترهغه یې په پاکستان کې د اقتصاد په برخه کې د ماسترۍ تر کچې زده‌کړې کړي دي.

په دې غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر هم د افغانستان بانک له مشریز پلاوي له اعتماد او باور څخه په منلو خپل پروګرامونه په لنډو ټکو کې داسې څرګند کړل، چې د بیو د ټیکاو، د افغانۍ ارزښت ساتلو لپاره به اغیزناکه پولي سیاستونو د طرحې په پلي کیدو سره خپل ټولې هلې ځلې پکار واچوي.

په همدې حال کې په ۱۳۹۵ کال په ترڅ کې د د بدلونونو، اصلاحاتو او دغه راز دکارونو د پرمختګ په موخه په لوړه کچه، آمریتونو او مدیریتونو په برخه کې بدلونونه راوستل او ښاغلی محمد قسیم رحیمي د ۱۳۹۵ کال د زمري په ۴ مه د یوې رسمي غونډې په ترڅ کې د افغانستان بانک د دویم مرستیال په توګه وپېژندل شو. د افغانستان بانک مشریز پلاوی هڅه کوي وړ او ژمن کسان د افغانستان بانک په کلیدي څوکیو کې وګماري. په همدې بنسټ یې ښاغلي محمد قسیم رحیمي، چې ۱۲ کلنه تجربه او بانکدارۍ او مالي برخه کې له هېواده بهر د ماسترۍ تر کچې، زده‌کړې لري د دویم مرستیال په توګه په دنده بوخت شو.

په دې غونډه کې ښاغلي محمد قسیم رحیمي، چې د افغانستان بانک دویم مرستیال پېژندل شوی وو، په رونټوب او کارونو کې د پرمختګ ترڅنګ، خپل لومړیتوبونه یې د افغانستان بانک چارو کې جدیت او امانت داري په ګوته کړه.

د دې بهیر په لړ کې اغلې کاترین فقیري د افغانستان بانک د عالي شورا د غړې په توګه وټاکل شوه. د افغانستان بانک

»

عالي شورا د پریکړو او سیاست جوړونې تر ټولو غوره شورا ده، چې اوه تنه غړي لري، چې د افغانستان بانک رییس خلیل صدیق یې مشر او د افغانستان بانک لومړی مرستیال یې د مرستیال په توګه او پینځه تنه نور غړي لري.

اغلې کاترین فقیری د امریکا څخه د لیسانس په کچه زده‌کړې لري، خو په مالي، حقوقي او بشري سرچینو په برخه کې بشپړه تجربه لري.

د افغانستان بانک په پراختیا کې د پانګونې لپاره مالي لاسرسي پروژه (FAIDA ) په رسمي توګه پای ته ورسیده د دې پروژې موخه د افغانستان د مالي سکتور پراختیا وه، چې د امریکا متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایې ادارې له خوا کابو شپږ کاله مخکې په لاره اچول شوې وه.

د دې ترڅنګ په ۱۳۹۵ هجري لمریز کال کې په ننګرهار کې د پولي خدمتونو وړاندې کوونکی د راپورونو سیستم په بشپړه توګه الکترونیکي شو. د افغانستان بانک د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د راپورونو په برخه کې د روڼوالي او محرمیت د خوندیتوب په موخه په الکترونیکي بڼه عیار شو. د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره د یوه ځانګړي سافټ ویر څخه، چې د دې مرکز په نوښت د معلوماتي ټکنالوژۍ له خوا رامنځته شوی ګټه اخیستل کیږي.

د پیسو نړیوال صندوق په کلنۍ غونډه کې د افغانستان بانک لوی رییس ښاغلي خلیل صدیق په واشنګټن ښار کې ګډون وکړ. په دې غونډه کې د ټولې نړۍ د هېوادونو مالي او بانکي چارواکو او د مالي او اقتصادي چارو د سترو کارپوهانو ګډون کیږي، چې د نړۍ عمومي اقتصاد او مالي وضعیت، غوړیدا په حال کې پرمختګ او لږ پرمختګ درلودونکو هېوادونو پولي او مالي سیاستونه تر ارزونې او څیړنې لاندې نیول کیږي. دغه راز د افغانستان بانک رییس ښاغلي خلیل صدیق په پسرلنۍ غونډه کې هم ګډون وکړ او د نړۍ اقتصادي وضعیت یې وارزاوو.

د افغانستان بانک لوی رییس خلیل صدیق د نړیوال مالي اقداماتو د ډلې په عمومي غونډه کې د ګډون په موخه د فرانسې پلازمینې پاریس ته سفر وکړ. په هغې غونډه کې د افغانستان بانک د پیسو مینځلو، د تروریزم د تمویل د مخنیوي او نورو اصلي جرمونو پروړاندې د مبارزې په اړه د افغانستان بانک د ترسره شویو کړنو راپور ستاینه وشوه او دا راپور یې ارزښتاکه وباله.

لدې سره په یو وخت کې د افغانستان بانک له خوا د پیسو مینځلو او له ترهګرۍ سره د تمویل د مخنیوي په موخه ښونیز ورکشاپ ترسره شو، په دې ورکشاپ کې د افغانستان بانک چارواکو ټینګار کړی دی، چې پولي خدمتونه له یوې خوا خلکو لپاره د لیږد رالیږد اسانتیاوې او لارې چارې برابروي او له بل پلوه که لدې خدمتونو څخه جدي او ښه څارنه ترسره نشي، ترې ناوړه ګټه پورته کیږي او پیسو وینځونکي د تورو پیسو د سپیناوي په موخه ترې ګټه پورته کوي.

د افغانستان بانک د کارونو د لا پرمختګ په موخه هلې ځلې کوي چې له نورو اداراتو سره هم تړونونه لاسلیک کړي په همدې درشل کې د افغانستان بانکونو ټولنې او المدینه شرکت ترمنځ هوکړه لیک لاسلیک شو، مخکې تردې د افغانستان بانک دا کړنلاره او تګ لاره د بانکونو په واک کې ورکړې وو. د دې هوکړه لیک موخه د منل شویو معیارونو سره سم د نویو چګپاڼو د چاپ بهیر وو.

»

د دې پاڼو پربنسټ به د چکپاڼو د جعلیتوب او درغلۍ مخه نیول کیږي او دا به د فساد د مخنیوي په برخه کې خپل اغیز وشیندي.

د افغانستان د مالي راپورونو او معاملو د شننې مرکز او د چین د پیسو مینځلو په ضد د ځار او شننې مرکز ترمنځ د همکاریو تړون لاسلیک شو. د دې تړون موخه د هېوادونو ترمنځ د پیسو مینځلو په اړه د معلوماتو تبادله او همکاري ده.

د مالي خدمتونو د پراختیا تګلارې جوړول د افغانستان بانک د مالي خدمتونو پراختیا د بې وزلۍ په کمولو کې مثبته اغیزه کوي، نو له همدې امله د افغانستان بانک هڅه کوي چې دا تګلاره بشپړه کړي.

دغه راز بانکي پورونو ته د لاس رسۍ لپاره د اسانتیا د رامنځته کولو په موخه بیلابیلې غونډې ترسره شوې او پورونو ته لاس رسۍ د افغانستان د هر وګړي حق وبلل شو، چې د افغانستان بانک په دې اړه خپلې ټولې هلې ځلې پکار اچوي چې خلک وکولی شي له سوداګریزو بانکونو په اسانه توګه پور ترلاسه کړي.

د نامناسبو پیسو په اړه هم بیلابیلې غونډې ترسره شوې او ټولو بانکونو ته لارښونه وشوه، هغه پیسې چې رنګ یې لاسه ورکړی وي، مهر یا پرله پسې سوری شوې وي، وینځل شوې او یا د تیزابو یا نورو کیمیاوي موادو له امله خرابې شوې وي او یا هم پرمخ یې سریښناکه مواد کارول شوی وي د نامناسبو پیسو په کتار کې راځي. ټولو بانکونو څخه هیله کیږي چې د نامناسبو بانکنوټونو په تبادله کې پرته له فیس څخه مرسته وکړي، ځکه د ۱۳۹۶ کال د اسد له ۳۱ وروسته دا بانکنوټونه د معاوضې وړ نه دي.

همداراز د افغانستان بانک او د افغانستان د مالي او بانکدارۍ چارو انسټیټوټ ترمنځ د همکارۍ تړون لاسلیک شو، چې موخه یې د افغانستان بانک د کارکوونکو د ظرفیت لوړول دي.

په همدې بنسټ د انیسټیټوټونو له خوا سوداګریزو مسلکي انیسټیټوټ ته معرفي شوي ۴۷ تنو محصلینو ته چې د زده کړو زمینه برابره شوه او له زده کړو وروسته یې تصدیق پاڼې ترلاسه کړې. دغه راز په همدې درشل کې ۱۴ تنو ته له ښوونیزو زده کړو وروسته د خطراتي مدیریت په برخه کې تصدیق پاڼې ورکړې.

د افغانستان بانک په بشري سرچینو پانګې اچونې ته لومړیتوب ورکوي، د افغانستان بانکداري او مالي انسټیټوټ AIBF په همکارۍ ۲۳ تنو کارمندانو ته په مالي برخه کې له ښوونې او روزنې وروسته یې تصدیق پاڼې ورکړې.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر ټینګار هم د افغانستان بانک د کارکوونکو د وړتیاوو په لوړولو وو، چې AIBF انسټیټوت تل هڅه کړې، د بشري سرچینو د وړتیاوو د لوړولو په برخه کې د افغانستان بانک له کارمندانو سره مرسته وکړې.

دغه راز د بشري سرچینو لوی آمر ښاغلي بشرمل پسرلي هم د هېواد د اداراتو تر ټولو مهمه برخه بشري سرچینې بولي او هوډ لري، چې تر ۲۰۲۰ کاله پورې د افغانستان بانک اتیا سلنه کارمندان په لومړي سر کې لیسانس او بیا ماسټري او د دې ترڅنګ آن دوکتوراوې ولري.▣

# مختصری پیرامون روند لیلام اوراق سرمایوی د افغانستان بانک

بر اساس قانون د افغانستان بانک، این بانک در اجرای سیاست های پولی خود می تواند از طریق بازار آزاد در خرید و فروش قطعی ( فوری و پیش خرید) ویا به موجب قراردادهای باز خرید به اسعار قابل معامله و اسناد بهادار اقدام نماید و مزایده یا لیلام اسعار و اوراق سرمایوی را راه اندازی کند. بناءً آمریت عملیات بازار منحیث پایهٔ اجرائیوی سیاست پولی عمل نموده و در کنار سرمایه گذاری ذخایر ارزی کشور، لیلام اسعار و اوراق سرمایوی را انجام میدهد.

د افغانستان بانک در حال حاضر از دو طریق جهت ثبات قیم و حفظ ارزش افغانی مبادرت می ورزد که عبارت از لیلام اوراق سرمایوی و لیلام اسعار می باشد. اوراق سرمایوی که یکی از ابزار سیاست پولی د افغانستان بانک است، برای ثبات ارزش افغانی مورد استفاده قرار گرفته و در حال حاضر از سوی د افغانستان بانک به بانک‌های تجارتی بفروش می رسد.

اوراق سرمایوی برای نخستین بار در سال ۱۳۸۳ هجری شمسی با نوت های ۳۰ شبانه روز آغاز شد که ارزش هر کدام آن به پنجاه میلیون افغانی می رسید، ولی در سال ۱۳۸۵ بجای آن اوراق سرمایوی ۲۸ روزه و ۵۶ روزه معرفی شد که ارزش هر کدام بالترتیب ۱۰۰ میلیون افغانی و ۵۰ میلیون افغانی بود، ولی بعد ها ارزش اوراق سرمایوی ۲۸ روزه به ۲۰۰ میلیون افغانی رسید و مدت اوراق سرمایوی ۵۶ روزه به ۱۸۲ روز ازدیاد یافت.

د افغانستان بانک با پلان و اجرای سیاست های پولی معقول، تنها به لیلام آنها اکتفا نکرد، این بانک به سلسله لیلام اوراق سرمایوی با موعدهای مختلف طی سال مالی ۱۳۹۲ برای اولین بار اوراق سرمایوی یک ساله ( ۳۶۴ روزه) را نیز به بازار معرفی و عرضه نمود.

طوریکه قبلاً تذکر بعمل آمد، طی سال های گذشته سه نوع اوراق سرمایوی از سوی د افغانستان بانک لیلام می گردید که عبارت از ۲۸ روزه، ۱۸۲ روزه و ۳۶۴ روزه بودند، اما بعد از سال ۱۳۹۴ در کنار اوراق یاد شده به موعد های مختلف، اوراق سرمایوی ۷ روزه نیز لیلام گردید که چگونگی لیلام آنها طی سال مالی ۱۳۹۴ در گراف ذیل نشان داده شده است.




به همین ترتیب ، طی سال مالی ۱۳۹۵، لیلام اوراق سرمایوی هفته یک مرتبه راه اندازی شده که در جریان مدت گزارشدهی مجموعاً مبلغ ۹۹،۵۳۲،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ افغانی لیلام گردیده است که جزئیات آن در گراف ذیل نشان داده شده است.




د افغانستان بانک با استفاده از لیلام اوراق سرمایوی، توانسته است تا نتیجهٔ مطلوبی بدست آورد و با استفاده از آن میزان اتکا بر فروش اسعار را کاهش و ارزش افغانی در مقابل سایر اسعار را تا اندازهٔ مطلوب و در تعادل نگهدارد.▣

# د ۲۰۱۶ میلادي کال په دویمه ربعه کې د نړۍ اقتصادي وضعیت

د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) د راپور پر بنسټ، د نړۍ اقتصادي وده په ۲۰۱۶ میلادي کال کې ۳.۱ سلنه اټکل شوې چې دا شمېره د روان کال د اپریل د میاشتې د وړاندې وینې (د پیسو د نړیوال صندوق د وړاندوینې) په پرتله۰.۰۰۱ سلنه کموالی ښکاره کوي او بنسټیز لاملونه یې له اروپایي ټولنې څخه د بریتانیې د وتلو لپاره له رایې ورکولو (بریکسټ) وروسته د پرمختللو هېوادونو د اقتصادي ودې کموالی او د امریکې د متحده ایالتونو کمزوره وده په ګوته شوي دي. په پایله کې، دې بدلونونو په نړیواله ټکتانې نرخ باندې ټیټېدونکي اغیزې کړې دي چې له امله یې تمه کېږي اوږد مهاله انبساطي پولي سیاست ترلاس لاندې ونیول شي. سره له دې چې د بریکسټ پر وړاندې د بازار عکس العمل منظم دی، خو اوس هم د بریتانیې او اروپایي ټولنې د هېوادونو ترمنځ په اقتصادي اړیکو باندې د هغه نهایي اغیزې څرګندې نه دي. له همدې کبله په ۲۰۱۶ میلادي کال د پیسو د نړیوال صندوق لخوا د پرمختللو هېوادونو اقتصادي وده ۱.۶ سلنه ټیټه اټکل شوې ده.

د راغوړېدلو او د پرمختګ په حال هېوادونو اقتصادي وده چې د تیرو پنځو کلونو په اوږدو کې یې ټیټوالی درلوده، په ۲۰۱۶ میلادي کال کې د لږ څه زیاتوالي په درلودلو سره ۴.۲ سلنه اټکل شوې ده. د پورته یاد شویو هېوادونو لید لوري سره ورته نه دي او د تیر په پرتله په ټولیزه توګه کمزوره دی. سره له دې چې مالي وضعیت په پرمختللو اقتصادونو کې د ټکتانې نرخ د کموالي د تمو پر بنسټ، ښې شوی دی، خو نورو عواملو د دې هېوادونو اقتصادي کړنې اغیزمنې کړي دي.

**پرمختللي اقتصادونه**

**۱. د امریکې د متحده ایالاتو اقتصاد**

د امریکې د متحده ایالاتو کورني ناخالصه تولیدات د کلني نرخ پر بنسټ د ۲۰۱۶ میلادي کال په دریمه ربعه کې ۳.۲ سلنې ته زیات شوي دي حال دا چې د دې هېواد کورني ناخالصه تولیدات په تیره ربعه کې ۱.۴ سلنه زیاتوالی درلود. د ۲۰۱۶ میلادي کال په درېیمه ربعه کې د امریکې د متحده ایالاتو د کورني ناخالصه تولیداتو د زیاتیدو اصلي لاملونه په مثبته توګه شخصي مصرفي لګښتونه، صادرات، د توکو په موجودۍ کې شخصي پانګونې، د فدرال حکومت لګښتونه په ګوته شوي دي، حال دا چې په استوګن ځایونو کې ثابتو پانګونو او د ملي او محلي حکومتونو لګښتونه د دې هېواد د کورني ناخالصه تولیداتو په زیاتیدو کې منفي ونډه درلودلې ده.

۱.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ (ربعه په ربعه د بدلونونو سلنه)




سرچینه: د اقتصادي تحلیل اداره، د امریکې د متحده ایالاتو د سوداګرۍ مدیریت

د امریکې د متحده ایالاتو د لګښت کوونکو د بیې شاخص (د موسم له مخې عیار شوی) ټولو ښاري لګښت کوونکو لپاره د ۲۰۱۶ کال په سپتمبر میاشت کې ۰.۳ سلنه زیاتوالی موندلی دی. په تیره میاشت کې دې شاخص ۰.۲ سلنه زیاتوالی درلوده، حال دا چې دا شاخص په جولای میاشت کې د تیرې مودې په پرتله هیڅ ډول بدلون نه ښکاره کوي.

۲.۱ ګراف: ښاري لګښت کوونکو لپاره د امریکې د متحده ایالاتو د مصرفي توکو د بیې شاخص (د موسم له مخې عیار شوی د یو میاشتني بدلونونو سلنه)




سرچینه: د کارکوونکو د احصائیې اداره، د امریکې د متحده ایالاتو د کار وزارت

د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې سوداګرۍ (د توکو او خدمتونو) کسر د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر میاشت کې ۳۶.۲ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیرې میاشتې ۴۰.۶ میلیارده امریکایي ډالرو په پرتله ۱۲.۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. په سپټمبر میاشت کې د دې هېواد تولیزه صادرات ۱۸۹.۸ میلیارده امریکایي ډالره او واردات یې ۲۲۵.۹ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې په تیره دوره کې د دې هېواد د صادراتو او وارداتو کچې په ترتیب سره ۱۸۸.۰ او ۲۲۸.۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیدې. همدا ډول د جولای میاشت کې د دې هېواد د صادراتو کچه ۱۸۶.۴ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوې ده، حال دا چې په همدې میاشت کې د دې هېواد د ټولیزه وارداتو کچه ۲۲۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیده چې دا شمېرې په ټولیزه توګه ۳۹.۶ میلیارده کسر ښکاره کوي.

۳.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو (د توکو او خدمتونو)
د نړیوالې سوداګرۍ بیلانس




سرچینه: د اقتصادي تحلیل اداره، د امریکې د متحده ایالاتو د سوداګرۍ وزارت

د امریکې د متحده ایالاتو د موسم پر اساس عیار شوی د بیکارۍ نرخ د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر میاشت کې ۵ سلنې ته چې د اګست او جولای د میاشتو د ۴.۹ سلنې په پرتله ۰.۰۰۱ سلنه لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. په ۲۰۱۶ کال کې د دې هېواد د بیکارۍ تر ټولو ټیټ نرخ په می میاشت کې او تر ټولو لوړ نرخ یې په مارچ، اپریل او سپټمبر میاشتو کې ثبت شوی ؤ چې په ترتیب سره ۴.۷ سلنې او ۵ سلنې ته رسیده.

۴.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو د بیکارۍ نرخ
( د موسم پر اساس عیار شوي د بدلونونو سلنه)




سرچینه: د کارکوونکو د احصائیې اداره، د متحده ایالاتو د کار وزارت

## ۲.د بریتانیې اقتصاد

د بریتانیې اقتصاد د ۲۰۱۶ میلادي کال په دریمه ربعه کې ۰.۵ سلنه (ربعه په ربعه) وده کړې ده. حال دا چې په تیره ربعه کې د بریتانیې اقتصاد ۰.۷ سلنه وده درلوده. په دریمه ربعه کې د بریتانیې د اقتصادي ودې اصلي لامل بهرنۍ خالصه تقاضا په ګوته شوې ده، حال دا چې کورنی لګښت او ثابتې پانګونې لږ څه زیاتې شوې دي.

۵.۱ ګراف: د بریتانیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ (ربعه په ربعه)
د موسم له مخې عیار شوی د بدلونونو سلنه




سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

د بریتانیې د مصرفي توکو د بیې شاخص د کلنی نرخ پر بنسټ د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر کې ۱ سلنې ته رسیږي چې د تیرې میاشتې د ۰.۶ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د بریتانیې د مصرفي توکو د بیې د لوړیدو بنسټیز لامل د
»

پوښاک، د موټرو د تیلو او په هوټلونو کې د شپې لخوا د اوسیدو د بیو زیاتوالی په ګوته شوی دی. همدا ډول د دې هېواد د مصرفي توکو د بیو شاخص په جولای میاشتې کې ۰.۶ سلنه ثبت شوی دی چې د تیرې میاشتې د ۰.۵ سلنې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي.

۶.۱ ګراف: د بریتانیې د انفلاسیون کلنی نرخ ( د سلنې له مخې بدلونونه)




سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

د بریتانیې د بیکارۍ نرخ د تیرې دورې له ۴.۹ سلنې څخه د ۲۰۱۶ میلادي کال په درېمه ربعه کې ۴.۸ سلنې ته راکم شوی دی. د دې هېواد د بیـــکارۍ نرخ د تیر کال د ورته دورې په پرتله په دې دوره کې ۵.۳ سلنه کموالی ښکاره کوي. حال دا چې د بریتانیې د بیکارۍ نرخ د ۲۰۰۵ زیږدیز کال راپدېخوا د ۲۰۱۶ میلادي کال په درېمه ربعه کې تر ټولو ټیټ نرخ ښکاره کوي.

د بریتانیې د نړیوالې سوداګرۍ (توکي او خدمتونه، ربعه په ربعه) کسر د ۲۰۱۶ میلادي کال په دریمه ربعه کې د ۱.۶ میلیارده پاونډه کموالي په درلودلو سره ۱۱ میلیارده پاونډه ته رسیږي. د دې هېواد د توکو صـــادرات د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۴.۵ میلیارده پاونډه ( ۶.۱ سلنه) زیات شوي، حال دا چې د خدمتونو صادرات یې ۰.۱ میلیارده پاونډه ( ۰.۱ سلنه) راکم شوي دي. په ورته وخت کې دې هېواد ته د توکو واردات ۳.۱ میلیارده پاونډه ( ۲.۸ سلنه) زیات شوي، خو د خدمتونو واردات یې ۰.۳ میلیارده پاونډه ( ۰.۷ سلنه) راکم شوي دي.

### ۳. د جرمني اقتصاد

د جرمني کورني ناخالصه تولیدات د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۰.۲ سلنه لوړ شوي چې د تیرې ربعې د ۰.۴ سلنې ودې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د دې هېواد د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې اصلي لامل د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې کورني مصرفي لګښتونه ښودل شوي دي، حال دا چې کورني مصرفي لګښتونه او دولتي مصرفي لګښتونه په ترتیب سره ۰.۴ سلنې او ۱.۰ سلنې ته لوړ شوي دي. برعکس، د ثابتې پانګونې د تشکیل وده کمزوره شوې، حال دا چې په ودانیزو چارو کې د ناخالصه ثابتې پانګونې تشکیل ۰.۳ سلنه زیاتوالی او په ماشین آلاتو او تجهیزاتو کې د ثابتې پانګونې تشکیل ۰.۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. سربېره پر دې، د دې هېواد سوداګریز بیلانس هم د کورني ناخالصه تولیداتو په وده باندې ۰.۰۰۳ سلنه منفي اغیز کړی دی.

۷.۱ ګراف: د جرمني د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ
( ربعه په ربعه د سلنې بدلونونه) د موسم او کلیزې پر اساس عیار شوی




سرچینه: د فدرال د احصائیې اداره (Destatis)

د جرمني د انفلاسیون کلنی نرخ د ۲۰۱۶ کال سپټمبر میاشت کې ۰.۷ سلنه ثبت شوی ؤ. د اګست میاشت کې د دې هېواد د انفلاسیون کلنی نرخ ۰.۴ سلنه ؤ، حال دا چې په تیره

»

میاشت کې هم د انفلاسیون کلنی نرخ ۰.۴ سلنې ته رسیده.

د جرمني د بیکارۍ نرخ ( د موسم او نامنظمه اغیزو پر بنسټ عیار شوی) د ۲۰۱۶ کال سپټمبر میاشت کې ۴.۱ سلنه ثبت شوی ؤ، حال دا چې دا شمېره د اګست په میاشت او جون میاشت کې ۴.۲ سلنه ثبت شوې وه. باید یادونه وشي چې په سپټمبر میاشت کې د جرمني د بېکاره وګړو شمېر ۱.۶۵ میلیونه (له تعدیلاتو وروسته ۱.۷۷ میلیونه وګړو) ته رسېږي، حال دا چې دا شمېره اګست میاشت کې ۱.۸۰ میلیونه (له تعدیلاتو وروسته ۱.۸۲ میلیونه وګړو) ته رسیده. همدا ډول د ۲۰۱۶ کال جولای میاشت کې ۱.۸۵ میلیونه ( له تعدیلاتو وروسته ۱.۸۲ میلیونه وګړي) د دندو په ترلاسه کولو برلاسي شوي نه دي.

د جرمني د بهرنۍ سوداګرۍ د بیلانس دیریدنه (د کلیزې او موسم له مخې عیار شوی) د ۲۰۱۶ میلادي کال سپټمبر میاشت کې ۲۱.۳ میلیارده یورو ته رسیږي چې د تیرې میاشتې د ۲۲.۲ میلیارده یورو ډېریدنې په پرتله ۴.۰۵ سلنه کموالي ښکاره کوي. د جرمني د بهرنۍ سوداګرۍ ډېریدنه د جولای د میاشتې د ۱۹.۴ میلیارده یورو په پرتله په سپټمبر میاشت کې ۹.۷۹ سلنه لوړه شوې ده.

**۴. د فرانسې اقتصاد**

د فرانسې کورني ناخالصه تولیدات د تیرې ربعې له ۰.۱ سلنه کموالي وروسته د ۲۰۱۶ میلادي کال په دریمه ربعه کې ۰.۲ سلنه زیاتوالی موندلی دی. د دې هېواد کورني لګښتونه په دریمه ربعه کې ثابته پاتې شوي خو د خدمتونو لګښتونه یې د تیرې ربعې د ۰.۲ سلنه کموالي په پرتله په دریمه ربعه کې ۰.۳ سلنې ته زیات شوي دي، حال دا چې د توکو لګښتونه یې د تیرې دورې د ۰.۱ سلنه زیاتوالي په پرتله ۰.۵ سلنه کموالی ښکاره کوي. همدا ډول کورنۍ پانګونې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې زیاتې شوې دي خو د شرکتونو پانګه اچونې بیا په دې ربعه کې راکمې شوې دي.

د توکو په موجودۍ کې بدلونونو د ۲۰۱۶ میلادي کال په دریمه ربعه کې د دې هېواد د کورني ناخالصه تولیداتو په وده کې ۰.۰۰۶ سلنه مثبته ونډه درلوده چې دا شمېره په تیره ربعه کې منفي ۰.۸ سلنې ته رسیده.

د فرانسې د بهرنۍ سوداګرۍ بیلانس د تیرې ربعې له ۰.۰۰۶ سلنې ونډې وروسته په دریمه ربعه کې د دې هېواد په کورني ناخالصه تولیداتو کې ۰.۰۰۵ سلنه منفي ونډه درلوده.

۸.۱ ګراف: د فرانسې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ
( د کاري ورځې او موسم پر اساس عیار شوی ربعه په ربعه د سلنې بدلونونه)




سرچینه: د احصائیې او اقتصادي چارو د څېړنې ملي انسټیټوټ(INSEE)

د فرانسې د مصرفي توکو د بیې شاخص(CPI) د اګست میاشتې له ۰.۲ سلنه زیاتوالي وروسته د ۲۰۱۶ کال سپټمبر میاشت کې ۰.۴ سلنه (کال په کال) زیات شوی دی، حال دا چې د مصرفي توکو د بیې شاخص جولای میاشت کې ۰.۲ سلنه زیاتوالی درلوده. په سپټمبر میاشت کې د انفلاسیون نرخ د لوړیدو اصلي لامل د خدمتونو لوړې بیې په ګوته شوې دي.

د ۲۰۱۶ میلادي کال په دریمه ربعه کې د فرانسې د لویو ښارونو او له هېواد څخه د بهر ادارو د بیکارۍ نرخ ۱۰.۰ سلنه ثبت شوی دی چې د تیرې ربعې د ۹.۹ سلنې په پرتله ۰.۰۰۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول په دریمه ربعه کې یوازې د فرانسې په لویو ښارونو کې د بېکارۍ نرخ ۹.۷ سلنې ته لوړ شوی دی.

د فرانسې د موسم پر بنسټ عیار شوی د بهرنۍ سوداګرۍ

»

کسر (په توکو کې) د ۲۰۱۶ میلادي کال په درېیمه ربعه کې ۲۰.۸۳ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۱۵.۷۲ میلیارده امریکایي ډالرو په پرتله 5.11 میلیارده امریکایي ډالره (۳۲.۵۱ سلنه) زیاتوالی ښکاره کوي. د میاشتو له مخې د فرانسې د موسم پر اساس عیار شوی د بهرنۍ سوداګرۍ کسر ( په توکو کې) د جولای، اګسټ او سپټمبر میاشتو کې په ترتیب سره ۶.۶۶ میلیارده، ۷.۱۴ میلیارده او ۷.۰۳ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي.

**۵.۵ د جاپان اقتصاد**

د جاپان اقتصاد د تیرې ربعې د ۰.۵ سلنه ودې په پرتله د ۲۰۱۶ میلادي کال په دریمه ربعه کې (د موسم پر بنسټ عیار شوی، ربعه په ربعه) ۰.۳ سلنه وده کړې ده. په دې هېواد کې خصوصي مصرفي لګښتونه د ۲۰۱۶ میلادي کال د دویمې ربعې له ۰.۲ سلنې څخه په درېیمه ربعه کې ۰.۳ سلنې ته زیات شوي دي. همدا ډول کورني مصرفي لګښتونه د ۲۰۱۶ میلادي کال په درېیمه ربعه کې ۰.۳ سلنې ته رسیږي چې د همدې کال د دویمې ربعې د ۰.۲ سلنې په پرتله ۰.۰۰۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د دې هېواد دولتي مصرفي لګښتونه د تیرې ربعې له منفي ۱.۱ سلنې څخه په درېیمه ربعه کې ۰.۳ سلنې ته لوړ شوي دي، حال دا چې عامه پانګونې یې د تیرې ربعې له ۱.۶ سلنې څخه په درېیمه ربعه کې ۰.۱ سلنې ته کموالی ښکاره کوي.

۹.۱ ګراف: د جاپان د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ (د موسم پر اساس)




سرچینه: د جاپان د کابینې دفتر

د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر میاشت کې د جاپان د انفلاسیون کلنی نرخ منفي ۰.۵ سلنې ته رسیږي چې دا شمېره په تیره میاشت کې هم منفي ۰.۵ سلنه وه، حال دا چې جولای میاشت کې یې کچه منفي ۰.۴ سلنه ثبت شوې ده. د جاپان د انفلاسیون نرخ د کمیدو بنسټیز لامل د کورني لګښت کموالی په ګوته شوی دی.

د جاپان د موسم پر اساس عیار شوی د بیکارۍ نرخ د ۲۰۱۶ کال جولای میاشت کې ۳ سلنه ؤ، حال دا چې دا نرخ په اګست میاشت کې ۳.۱ سلنې ته زیات شوی او په سپټمبر میاشت کې بیرته ۳ سلنې ته راکم شوی دی. په دې هېواد کې د بیکاره وګړو شمېر په جولای میاشت کې ۲.۰۳ میلیونه وګړو ته (د موسم پر بنسټ عیار شوی نه دی) رسیږي، خو په اګست میاشت کې یې شمېر ۲.۱۲ میلیونه وګړو ته زیات شوی، حال دا چې په سپټمبر میاشت کې د بېکاره وګړو شمېر ۲.۰۴ سلنې ته راکم شوی دی.

د جاپان د سوداګرۍ بیلانس د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر میاشت کې ۴۹۳.۲ میلیارده ینه ډېریدنه ښکاره کوي چې صادرات یې ۵،۹۶۸.۶۵ میلیارده ین او واردات یې ۵،۴۷۵.۴۵ ین ته رسیدلی، حال دا چې د دې هېواد صادرات په اګست میاشت ۵،۳۱۶.۶۴ میلیارده ین او واردات یې ۵،۳۳۹.۵۶ میلیارده ین ته رسیږي چې دا شمېرې ۲۲.۹ میلیارده ینه سوداګریز کسر ښکاره کوي. په جولای میاشت کې د دې هېواد د صادراتو کچه ۵،۷۲۹.۱۶ میلیارده ین او د وارداتو کچه یې ۵،۲۱۸.۷۶ میلیارده ین ته رسېده چې ۵۱۰.۴ میلیارده ینه سوداګریزه ډېریدنه ښکاره کوي.▣

# تجارت آزاد و منفعت آن به کشورها

تجارت آزاد به تجارتی گفته می‌شود که مطابق به معیارهای سازمان تجارت جهانی (WTO) فعالیت داشته باشد.

پس از جنگ جهانی دوم اکثر کشورهای جهان به فکر آن شدند تا از طریق تجارت و مبادلات امتعه، بخشی از مشکلات اجتماعی، تکنالوژیکی، اقتصادی و سیاسی خود را حل کرده و از این طریق بتوانند از وقوع بحران‌های که پروسه داد و ستد را مختل می سازد، در سطح جهان جلوگیری نموده و یا حد اقل بکاهند.

کشورهای دنیا به وسیله شبکه های اقتصادی، سیاسی و اجتماعی پیچیده با یکدیگر مرتبط اند، که بعضی ها این روابط را به نام تار عنکبوت می نامند. تجارت جهانی روابط اقتصادی کشورهای مختلف جهان را با هم وصل نموده و چگونگی ایجاد این روابط عمیق و ژرف اقتصادی و کاربردهای اقتصادی آن ها را مورد بحث قرار می‌دهد. روابط اقتصادی بر مسایل اقتصادی تأکید می ورزد، که موضوعات اقتصادی را نمی‌توان از مسایل و روابط سیاسی و اجتماعی جدا دانست، زیرا مسایل سیاسی و اقتصادی لازم و ملزوم یک دیگر می‌باشند. برعلاوهٔ روابط اقتصادی، کشورهای جهان به طرق گوناگون رابطه برقرار می نمایند. مثلاً از طریق تجارت کالاها، جریان سرمایه و نیروی انسانی که هر کدام پیامدهای خود را دارند.

## فواید تجارت آزاد برای کشورها

در اینجا سوالی مطرح می شود که چرا کشورها به تجارت با یکدیگر می‌پردازند؟ اقتصاددانان بیش از ۲۰۰ سال است که در این مورد می گویند: "تجارت بدون محدودیت میان دو کشور، به سود هر دوی آن ها است". در عقب این دیدگاه مفهوم کارآمدترین شیوه تخصیص منابع به تولید کالاها وجود دارد که نوعی از تقسیم کار میان کشورها بمیان می آید. به شکلی که هر کشور تلاش خود را روی مجموعهٔ از کالاها متمرکز ساخته که در مقایسه با سایر کشورها و انواع دیگر امتعه، بهترین موقعیت را برای تولید آن ها دارد. چون هیچ کشوری نمی تواند همه نیازهای خود را برآورده کند، برای مبادلهٔ خدمات و کالاهای خاص هر کشور با کالای ساخته شده در سایر نواحی، تجارت را به پیش میبرند.

نفع تجارت بین المللی بر این واقعیت



غلام‌حسن زاهدی
لیسانس پوهنځی اقتصاد پوهنتون کابل

(۱) سازمان تجارت جهانی در اول جنوری سال ۱۹۹۵ میلادی و بعد از هشت سال مذاکره رسماً جاگزین گات ( موافقت‌نامه عمومی تعرفه و تجارت) شد. سازمان تجارت جهانی مجموعهٔ از موافقت‌نامه‌ها و مقرراتی است که توسط بسیاری از کشورها امضا شده و در پارلمان‌های آن‌ها به تصویب رسیده است. هدف از تأسیس این سازمان ایجاد و فراهم سازی سهولت های بیشتر برای صادرات و واردات کالا و خدمات بین ملت‌های مختلف می‌باشد. بر اساس موافقت نامه و مقررات این سازمان، کالاها، خدمات، سرمایه و نیروی انسانی بدون کدام موانع از یک کشور به کشور دیگر انتقال می یابد. »

استوار است که کشورها از نظر توانایی تولید کالاها با یکدیگر تفاوت دارند. غالباً هر کشور مشخص از نظر مصارف تولید یک جنس خاص و ویژه از مزیت مطلق برخوردار است. منافع داد و ستد در مواردی که کشورها در تولید یک کالا مزیت مطلق دارند، کاملاً مشهود و پذیرفتنی است و آن را می توان برحسب افزایش تولید کُل و مصرف اضافی در هر دو کشور اندازه گرفت.

### سود افغانستان از تجارت آزاد

امروز جهان به یک دهکده تبدیل شده است که افغانستان نیز شامل آن می باشد. افغانستان براساس توافقنامه ها و قراردادها روابط خوب با کشورهای جهان به ویژه با همسایه گان برقرار نموده است. افغانستان بعد از استقرار نسبی امنیت طی یک دهه گذشته روابط تجارتی وسیعی را باکشورهای جهان ازجمله کشورهای همسایه تجربه نموده است. از آنجا که افغانستان یک کشور محاط به خشکه می باشد، نقش کشورهای همسایه در تسهیل تجارت خارجی ( حمل و نقل امتعه تجارتی) بسیار مهم بشمار میرود.

پاکستان به مقایسه با سایر کشورهای همسایه در تسهیل تجارت خارجی ما نقش عمده را ایفاء کرده می تواند، چون بخش زیادی از امتعه صادراتی و وارداتی ما، راه های ترانسپورتی این کشور را می‌پیماید و بر عکس کشور ما نیز راه‌های ترانسپورتی را برای انتقال امتعهٔ تجارتی پاکستان به کشورهای محاط به خشکهٔ آسیای مرکزی فراهم می‌سازد.

**تجارت آزاد برای همه کشورها به ویژه برای کشور عزیز ما نقش سازنده را ایفاء می‌نماید و مسئولین و کارگزاران باید در این راستا توجه جدی نموده تا کشور عزیز ما به رشد و توسعه اقتصادی خوبی دست یابد.**

تجارت و ترانزیت یک بخش اساسی اقتصاد کشورها را تشکیل می‌دهد و هیچ کشوری در دنیای امروزی وجود ندارد که بدون صادرات و واردات اجناس و خدمات بتواند گامی به سوی انکشاف اقتصادی بگذارد. تجارت باعث ازدیاد و تنوع تولید کالاها و خدمات شده و در عین زمان مزیت مطلق و نسبی کشورهای صادرکننده و واردکننده را افزایش می دهد، ولی شرط اساسی تجارت این است که بین صادرات و واردات یک کشور تعادل نسبی وجود داشته باشد. به عبارت دیگر بیلانس تجارتی کشور نباید طی یک دوره کسر زیاد را به ثبت برساند، در این صورت اسعار زیاد از کشور خارج شده و وضع اقتصاد به خرابی می گراید.

افغانستان باکشورهای مختلف روابط تجارتی داشته و به طور سالانه مقدار زیادی اجناس را از کشورهای جهان وارد نموده و عکس آن تولیدات داخلی را به کشورهای خارجی صادر می‌نماید.

در اینجا سوال مطرح می شود که چرا کشورهای که دارای تولید داخلی فراوان هستند، باز هم به تجارت خارجی مبادرت می ورزند؟ همان طوریکه افراد برای رفع نیازمندی های خویش به تبادله کالاها نیاز دارند، کشورها نیز برای پاسخگویی تقاضای مردم خویش اقدام به مبادلات تجارتی می نمایند. در عصر کنونی کشورها قادر نیستند تا تمام احتیاجات داخلی را خود تولید و یا رفع نمایند. چنانکه منابع طبیعی در تمام کشورها به طور یکسان نیست و این خود زمینه را برای تجارت خارجی مهیا می سازد.

**در گذشته ، تجارت افغانستان با کشورهای همسایه و کشورهای آسیایی و اروپایی محدود بود و یا اصلاً مراودات تجارتی موجود نبود، اما خوشبختانه افغانستان در حال حاضر با چندین کشور جهان روابط تجارتی داشته که می توان آنرا یک دست آورد بزرگ برای کشور خود عنوان نمود.**

»

کشورها از لحاظ منابع طبیعی، شرایط اقلیمی، منابع بشری، سرمایه، معادن، ساختار زیربنایی و اقتصادی و سایر موارد از همدیگر متفاوت‌اند که این خود زمینه را برای تجارت ( داد و ستد) خارجی بین کشور بیشتر می‌سازد. این تفاوت‌ها زمینه و امکان آنرا فراهم می‌سازد تا بسیاری از کشورها نسبت به کشورهای دیگر در عرصهٔ تولید اشیا و خدمات مؤثریت بیشتر و بهتر داشته باشند. بطور مثال افغانستان در تولید میوه های تازه و خشک و صنعت قالین نسبت به سایر کشورها از مزیت والای برخوردار است، در حالیکه پاکستان در تولید برنج و صنایع بافنده‌گی نسبت به تعداد از کشورها مزیت دارد. دلیل دیگری که چرا تجارت خارجی بین کشورها صورت می گیرد، همانا تفاوت قیمت اشیا و خدمات در این کشورها می‌باشد. تفاوت قیمت‌ها به صورت عموم در اثر تفاوت در شرایط عرضه تولید و یا شرایط تقاضا و یا هر دوی آن‌ها به وجود می‌آید.

در نتیجه، میتوان گفت که تجارت آزاد برای همه کشورها به ویژه برای کشور عزیز ما نقش سازنده را ایفاء می‌نماید و مسئولین و کارگزاران باید در این راستا توجه جدی نموده تا کشور عزیز ما به رشد و توسعه اقتصادی خوبی دست یابد.

## نتیجه‌گیری

امروز تجارت یک امر ضروری برای همه کشورها به شمار میرود. بدون تجارت نمی‌توان تمام نیازهای شهروندان را مرفوع ساخت. در حقیقت تجارت بین المللی همانا روابط تجارتی یعنی صادرات و

**تجارت بین‌المللی از برخورد عرضه و تقاضا برای کالاها و خدمات بین کشورهای مختلف به دلیل منفعت و سودآوری برقرار می‌گردد.**

واردات کالاها و خدمات بین کشورهای مختلف دنیا می باشد. به عباره دیگر به خرید و فروش کالاها و خدمات بین کشورهای جهان تجارت بین المللی گفته می شود، چون هیچ کشوری در جهان وجود ندارد که تمام نیازمندی ها و خواسته‌های مجموعی مردم را تأمین کند. ضرور است که به خاطر رفع نیازمندی‌های جامعه بین کشورهای مختلف جهان رابطه برقرار شود. همچنان تجارت بین‌المللی از برخورد عرضه و تقاضا برای کالاها و خدمات بین کشورهای مختلف به دلیل منفعت و سودآوری برقرار می گردد.

تجارت برای افغانستان یکی از مهم ترین گزینه ها برای تأمین نیازهای مردم محسوب می گردد که دراین راستا وزارت محترم تجارت و اتاق‌های تجارت و صنایع افغانستان زحمات بی شایبه را متقبل شده اند. در گذشته ، تجارت افغانستان با کشورهای همسایه و کشورهای آسیایی و اروپایی محدود بود و یا اصلاً مراودات تجارتی موجود نبود، اما خوشبختانه افغانستان در حال حاضر با چندین کشور جهان روابط تجارتی داشته که می توان آنرا یک دست آورد بزرگ برای کشور خود عنوان نمود.

در کنار اینکه در تجارت، صادرات و واردات امتعه و کالاها صورت میگیرد، می توان از مزایای انتقال تکنالوژی، مهارت ها و نیروی بشری کارا و ماهر نیز استفاده مفید کرد.▣

### منابع و پی‌نوشت‌ها


1. Weakness of the market economy and the need for government interference - Dr. hamidullah Noor Ebad
2. Situation of transit and trade between Afghanistan and Pakistan
3. World trade organization
4. International political economy- Thomas D. Lairson and David Skidmore

# اقتصادي خبرونه

**افغانستان چین او پاکستان د سیمې په نښلېدو او زېربنا بحث وکړ**

د سیمې د نښلېدو او زېربنا په تړاو د افغانستان، چین او پاکستان ترمنځ د عملي خبرو لومړۍ ناسته د غبرګولې میاشتې په ۶ مه نېټه په پکنن ښار کې تر سره شوه. په دې ناسته کې د دریو واړه اړخونو تر منځ د سیمې د نښلېدو لپاره په بېلابېلو سیمو کې د زېربنایي پروژو په تمرکز، د متقابلو ګټو په دودولو، د یوه کمربند/یوې لارې (OBOR) طرحې په چوکاټ کې د سیمې په اقتصادي یووالي خبرې اترې وشوې.

یاده ناسته د مالیې وزارت لوی سلاکار ښاغلي خالد پاینده، د چین د بهرنیو چارو وزارت د بهرنیو اړیکو لوی رئیس ښاغلي شیائو کیان او د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د بهرنیو اړیکو رئیس ښاغلي منصور احمد خان په ګډه مشرۍ تر سره شوه.

افغان دولت په دې برخه کې د نښلېدو څو کلیدي پروژې، لکه د سړک او اوسپنیزې پټلۍ د سکتور ترڅنګ د اوبو او لمریزې انرژۍ پروژې وړاندیز کړې. افغان پلاوي په اقتصادي همکارۍ په ځانګړې توګه سیمه ایزه نښلونه ټینګار وکړ، چې له اقتصادي ظرفیت څخه ګټه پورته او په سیمه یې د سولې او سوکالۍ اغېز رېښتینی شي. په دې سره به د افغانستان راتلونکي جغرافیایي ګټې د سیمې په یووالي کې څرګندې شي.

درې واړه اړخونو په دې پرېکړه وکړه چې افغانستان، چین او پاکستان د یوه کمربند/یوې لارې ( OBOR) طرحې له لارې عملي همکاري به په راروانه ناسته چې په کابل کې جوړېږي په منظمه توګه تر سره کړي.

سرچینه: د مالیې وزارت ویب پانه

**بانک مرکزی ایران: بانک‌های کشور ورشکسته نیستند**

۱۳ جوزاء ۱۳۹۶

**یک مقام بانک مرکزی ایران گفته است که هرچند برخی بانک‌های ایرانی با مشکلاتی مواجه هستند، اما خطر ورشکستگی آنها را تهدید نمی‌کند.**

عباس کمره‌ای، مدیرکُل نظارت بر بانک ها و مؤسسات اعتباری در بانک مرکزی، با رد "شایعات" درباره ورشکستگی بانک‌ها، اطمینان خاطر داده است که عملکرد بانک‌های ایرانی تحت "نظارت کامل" بانک مرکزی است.

آقای کمره‌ای گفته است: "برخی بانک ها با مشکلاتی نظیر کمبود سرمایه، انباشت دارایی‌های غیر مولد و مطالبات غیرجاری بالاتر از استندردهای بین المللی مواجه هستند و در شرایطی قرار دارند که عملکرد آن ها در دو سال اخیر با اندکی سود همراه بوده است، اما بانک مرکزی به عنوان نهاد ناظر بر عملکرد آنها نظارت داشته و ورشکستگی بانک ها به ساده‌گی صورت نمی گیرد".

نظام بانکی ایران با مشکلات مزمنی مثل مطالبات معوق روبرو است. در هفته‌های اخیر وضعیت بحرانی مؤسسه اعتباری کاسپین اعتراض‌های سپرده‌گذاران این مؤسسه را به دنبال داشته و نگرانی‌های درباره احتمال ورشکستگی دیگر بانک‌ها ایجاد کرده است.

عباس کمره‌ای گفته است که پیش از اعلام ورشکستگی بانک‌ها اقدام‌هایی چون اصلاح ساختاری، تجمیع یا ادغام می‌تواند به نجات بانک‌ها کمک کند.

آقای کمره‌ای گفته است نظارت بر بانک‌ها در بانک مرکزی "تجدید ساختار سازمانی" داشته و "مقررات احتیاطی" تدوین

»

شده است. او گفته برخی بانک‌ها و مؤسسات اعتباری به دلیل کمبود نقدینگی و "رقابت با نهادهایی که تحت نظارت بانک مرکزی نیستند" حاضرند سود بالایی به سپرده‌ها بدهند، که به گفته این مقام بانکی این مساله به واگرایی نرخ سود و نرخ تورم منجر شده است.

مدیرکُل نظارت بانک مرکزی ایران با تاکید از بانک ها و مؤسسات اعتباری خواسته است که به هیچ وجه وارد مبادلات مالی با "موسسات غیرمجاز" نشوند.

منبع: بی بی سی

**بهای نفت خام اندکی بهبود یافت**

**۳ جوزاء ۱۳۹۶**

بهای نفت خام که در پی تصمیم اخیر تولیدکنندگان عمده نفت کاهش یافته بود، اندکی بالا رفته، اما هنوز به سطح قبلی نرسیده است. در معاملات بازار نفت بتاریخ ۵ جوزا بهای نفت خام نسبت به روز گذشته اندکی بهبود یافت و نفت خام از نوع برنت با افزایش ۲۸ سنت به بشکه‌ای ۵۱.۷۴ رسید.

بتاریخ ۴ جوزا ، دومین نشست مشترک وزیران نفت و انرژی کشورهای عضو اوپک و چند کشور عمده صادرکننده غیر عضو در مقر اوپک در وین تشکیل شد و شرکت کنندگان اعلام کردند که همچنان به توافق به دست آمده نشست قبلی متعهد هستند. در اولین نشست مشترک این کشورها در ماه نومبر که به ابتکار عربستان و روسیه برگزار شد، شرکت‌کنندگان تصمیم گرفتند که به منظور بهبود بهای نفت خام، سطح تولید خود را کاهش دهند. هدف از این تصمیم، مقابله با روند سقوط بهای نفت خام بود که از تابستان سال ۲۰۱۴ آغاز شده بود.

در پی این تصمیم، قرار شد که تولید روزانه کشورهای عضو اوپک در مجموع ۱.۲ میلیون و تولید روزانه کشورهای غیر عضو ششصد هزار بشکه در روز کاهش یابد. این تصمیم از اول جنوری به مدت شش ماه به اجرا گذاشته شد.

در نشست مشترک روز گذشته که برای بررسی نتیجه توافق نشست اول تشکیل شده بود، علاوه بر نمایندگان یازده کشورهای عضو اوپک، نمایندگان جمهوری آذربایجان، بحرین، روسیه، سودان، سودان جنوبی عمان، قزاقستان، مالزی و مکزیک شرکت داشتند. در این نشست تصمیم گرفته شد که توافق قبلی به مدت ۹ ماه تا پایان چهارماهه اول سال آینده تمدید شود. نحوه توزیع کاهش بین کشورهای شرکت کننده در نشست بعداً بررسی می شود.

در توافق قبلی اوپک برای کاهش تولید، ایران، لیبی و نیجریا از الزام به کاهش تولید معاف شدند. منابع خبری داخلی ایران گفته‌اند که این معافیت برای ۹ ماه آینده ادامه خواهد داشت.

در پی نشست روز گذشته، بهای نفت خام در بازارهای جهانی تا ۵ درصد کاهش داشت. ناظران در توجیه این کاهش گفتند که معامله گران در بازارهای نفتی ظاهراً انتظار داشتند که نشست روز پنجشنبه تدابیر جدیدی را به توافق قبلی بیافزاید و تمدید تصمیم قبلی را برای حمایت از بهای نفت کافی ندانستند. به نظر آنان، بازارهای نفتی همچنان با مازاد عرضه نسبت به تقاضا دست به گریبان هستند.

با اینهمه، بهبود نسبی قیمت نفت در معاملات روز جمعه نشان می‌دهد که بازارهای نفتی تا حدودی از اطمینان کشورهای تولید کننده نسبت به افزایش بهای نفت طی ماه آینده دلگرم شده‌اند.

منبع: بی بی سی



# د محدودو مالي سرچينو په شتون کې اقتصادي خوځښت

**۱۳۹۶ د غبرګولی ۴** – د افغانستان اقتصادي راپور تحليلونه او ارزونې دا جوتوي، چې د امنيت ناوړه وضعيت په پرله پسې توګه د خلکو پر ژوند، سوداګرۍ او کاروبار ناوړه اغېزه کړې ده. په ۱۳۹۴ کال کې د اقتصادي ودې کچه چې ۱.۱ سلنه وه، په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲.۲ سلنې ته لوړه شوه، چې د اقتصادي ودې دا لوړ والی د کرنې سکټور د پیاوړې ودې له امله رامينځته شوې. د کرنې سکټور د ناکرنيزو سکټورونو په پرتله په دې کال کې له لږې اندازې ودې برخمن شوي وو. په داسې یوه هېواد کې چې د وګړو د ودې کچه يې ۳ سلنه وي، د اقتصادي ودې ۲.۲ سلنه کچه د سر سړي عايد د ودې کموالی ښيي. دغه راپور همداراز وړاندوينه کوي چې د ۱۳۹۶ مالي کال په بهير که به د اقتصادي ودې کچه ۶.۲ سلنه لوړه وي.

د دې راپور له منځپانګې او محتوا دا جوتيږي، چې مالي حالت تر پخوا ښه شوی دی. د ۱۳۹۵ مالي کال په اړانه کې کورني عوايدو کچه ۱۵ سلنه ډېروالی موندلی، چې دا کچه، بوديجې لپاره د ټاکل شوي موخې په تناسب ۵ سلنه ډېروالی ښيي. د ۱۳۹۴ کال د ثبت شوو ارقامو په پرتله د تېرو دوو کلونو په بهير کې د عوايدو د راټولو په حالت کې ښه والی راغلی دی. په دې توګه د کورني ناخالصه توليداتو په تناسب د عوايدو د راټولو کچه تر ۵.۱ سلنه لړه ښودل شوې ده. داسې وړاندوينه کېږي چې، د ۱۳۹۶ مالي کال په بهير کې به د عوايدو کچه د کورني ناخالصه توليداتو ۱۰.۸ سلنې ته ورسيږي. د ياد راپور د موندنو پربنسټ، په هغه صورت کې چې د نړيوالې ټولنې له لوري ژمنه شوي مالي وجوهات په ټاکلي وخت د افغان دولت په واک کې ورکړل شي، نو داسې انګېرل کېږي، چې په ۱۳۹۶ کال کې متوازنه مالي بوديجه ترلاسه شي.

وړاندوينه کېږي چې تر ۱۳۹۹ (۲۰۲۰م) کاله پورې به د اقتصادي ودې کچه په تدريجي ډول تر ۶.۳ سلنې پورې لوړه شي، خو د راتلونکو کلونو په بهير کې د پراخې اقتصادي ودې چاپېريال به د غوره امنيت، سياسي ټيکاو، د اصلاحاتو د هوکړه ليک پلي کېدا او په لوړه کچه د نړيوالې ټولنې بنسټيزو مرستو پورې تړلې وي. بوديجوي ننګونې به تر منځمهاله پورې به دليدنې او کتنې وړ وي. همداراز به د پرمختيايي او امنيتي لګښتونو کچه لوړه شي په داسې حال کې چې د اړتيا وړ سرچينې به شتون و نه لري.

افغانستان په ۱۳۹۵ کال کې د بشري ناورين له ننګونو سره هم مخ وو. په دې کال کې کابو ۸۰۰۰۰۰ کډوال له

»

پاکستان او ایران څخه هېواد ته راستانه شول. له دې سره هم مهاله د کورني تاوتريخوالي په پايله کې په کور دننه د بې ځايه شوو خلکو کچه هم لوړه شوې ده. په ۱۳۹۶ کال کې د کډوالو او کورني بېځايه شوو د بېرته ستنېدو د بهير دوام د هغو ننګونو ستره او مهمه نښه بلل کېږي چې د افغانستان دولت په وړاندې شتون لري، څو په انفرادي توګه زيانمنو شويو خلکو ته بېړني او اساسي خدمات چمتو کړي.

**"د افغانستان اقتصادي راپور له مخې چې په کال کې دوه ځله خپرېږي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې د کرنې سکټور ۲.۲ سلنه د اقتصادي ودې لامل وو، په داسې حال کې چې د دولت مالي حالت په ۱۳۹۵ مالی کال کې ښه والی موندلی، د مالي سکټور منځ مهاله کتنه پکې نا څرګنده بريښي.**

د افغانستان اقتصادي راپور يوه ځانګړې برخه په داسې يوه هېواد کې چې د سرچينو له محدوديت سره مخ دی، د اقتصادي محرکاتو او خوځښتونو پر څرنګوالي بحث کوي. په داسې حال کې چې د اقتصادي ودې بهير کړندی نه دی، افغانستان د اقتصاد پياوړتيا او خوځښت د هڅو – او همداراز د کمزوري مالي حالت د مخنيوي په برخه کې – له سخت کړکېچ سره مخ دی، څو له يوه پلوه اقتصادي خوځښت رامنځته کړي او له بل اړخه د کمزوري مالي حالت څخه مخنيوی وکړي. مالي چاپيريال دومره محدوده دی چې له يوې خوا يې په دولتي لګښتونو کې د ډېروالي ظرفيت اغېزمن کړی او له بله اړخه يې په مالياتو کې د کمښت چاره نامکنه کړې ده. نو له دې کبله دولت ته ښايي څو داسې نوښتونه وکاروي، چې له مخې يې په اغېزمنه توګه د مالي لګښتونو وده پراخه شي.

- لومړی: د داسې پاليسيو پنځول او رامنځته کول چې دولت د غير سوداګري توکو، چې د کورني توليدونکو له لوري چمتو کېږي، لګښت او مصرفولو ته وهڅوي. په دې توګه به واردات نه، بلکې کورني توليدات پياوړي او زيات شي.
- دويم: د داسې پاليسيو جوړول چې له مخې يې د جذب ظرفيت ورسره غوره شي څو کيفيت، چټکيتا او د عامه پانګه اچونې ارزښت ورسره لوړ شي.
- دريم: همداراز د داسې پاليسيو رامنځته کول چې پرېنسټ يې د بانکدارۍ او ودانيزو سکټورونو په برخه کې رقابتي او د سيالی بازار وده وکړي. دا چاره به کوچني او منځنۍ کچه شرکتونه دې ته وهڅوي چې دې بازار ته را ودانګي.
- څلورم: مالي چاپيريال د ځينو اقداماتو له لارې کولی شي څو د داخلي سرچينو او په اغيزمنه توګه له يادو سرچينو څخه ګټه اخيستنه لاپياوړې کړي، چې په پای کې به د يو شمېر سرچينو د برابرېدلو او فارغېدلو لامل کېږي.▣

http://www.worldbank.org/ps/country/afghanistan/publication/afghanistan-development-update-may-2107






# نگاهی مختصر به شکل گیری بانکها

بانک ها عبارت از مؤسسات خدماتی اند که با نبض حیات جوامع " اقتصاد" سرو کار داشته و بیشتر افراد جامعه بصورت مستقیم یا غیر مستقیم با بانک‌ها در ارتباط هستند. بانک‌ها همیشه با تصامیم و سیاست های خود موجب رشد و توسعه شده و یا هم شرایط رکود اقتصادی درکشورها را فراهم می سازند. بدین مفهوم که اگر طرح سیاست ها و اتخاذ تصامیم از جانب بانک ها مطابق به مقتضیات زمان، سنجیده و معقول باشد سبب رشد و توسعه اقتصادی شده، اما اگر تصامیم خیالی و اتخاذ سیاست های نا معقول از جانب ایشان صورت گیرد، نتیجه عکس را در قبال خواهد داشت.

واژهٔ بانک یک اصطلاح قدیمی بوده که از واژهٔ آلمانی Bank به معنی نوعی شرکت یا هم از کلمهٔ Banko ایتالیایی به معنی میز یا صندلی صرافان اشتقاق یافته است. بانک یا مؤسسه صرافی با نام و نشان کهن اش، به تدریج سازمان یافته و به مرور زمان به مرکز خدمات پولی و اعتباری بانک های امروزی مبدل شده است.

تصور بر این است که تاریخ بانک و بانکداری از زمان پیدایش پول آغاز می گردد. در تحقیقاتی که در سوریه، بابل و مصر قدیم صورت گرفته، در این مکان ها برای اولین بار با تشکیلات بانکی بر می خوریم و چنین وانمود می گردد که سیستم بانکی آن زمان، پایه های نظام بانکی امروز را تشکیل می دهد. تنها تفاوت میان بانکداری سابق و فعلی در این است که در گذشته بیشتر پول، سرمایه و فلزات گرانبهای مردم در معابد نگهداری می شد، سرانجام آنها به مؤسسات وام دهنده تبدیل شدند.

بادرنظرداشت اهمیت بانکداری در جوامع، بر تاریخچهٔ تحول بانکداری از آغاز تا کنون مرور مختصری می نمائیم:

- بابل- حمورابی ششمین پادشاه سلاطین بابل میان سال های ۲۰۲۵-۲۰۶۷ قبل از میلاد مسیح قوانینی را وضع کرد که در آن مقرراتی برای وام دادن و قبول سپرده های مردم به چشم می خورد. در آن زمان در بابل تجارت، داد و ستد و سرمایه گذاری، دادن حواله و برات وجود داشته و سیستم عملیات بانکی فعال بوده است.
- یونان- در یونان قدیم نیز بانکداری مروج بوده، در قرن ششم قبل از میلاد در مراکز تجارتی و معابد سکه ضرب زده می شد، این امر مستلزم وجود صرافان و نظام بانکی در آنجا بوده است. در پی این همه تغییرات بر اساس طریقه های یونانی بانکداری خصوصی و بانکداری دولتی به میان آمد، طوریکه قبلاً ذکر گردید، بانکدرای حرفه ای در جهان از صرافی آغاز گردید، آنان توانستند با

»

جلب اعتبار مردم و صدور تعهد نامه، امانتدار اموال تجارتی شوند، در آن وقت تداوم تجارت به همکاری صرافان امکان پذیر بود.

- ایران- در ایران قبل از هخامنشی ها بانکداری به شکل ابتدایی وجود داشته، اما در زمان هخامنشی ها تجارت گسترش یافت، پول سکه ضرب زده شد، کلیه امور بانکی در جریان افتاد، خرید و فروش املاک، احشام، غلامان و کشتی ها توسعه یافت.
- روم – در این کشور سیستم بانکداری به نوعی وجود داشته، در آن وقت پول داخلی به پول خارجی مبادله می شد، سپرده های مردم اخذ و قرضه اعطا می گردید، سیستم بانکی در آن زمان در این کشور شبهٔ سیستم بانکی فعلی بود.
- چین – در چین سیستم بانکداری در حوالی قرن ششم قبل از میلاد مسیح رواج داشت، اما با اختراع کاغذ در سال ۱۰۵ قبل از میلاد در این کشور، تغییرات عظیمی در سیستم عملیات بانکی به وجود آمد و با اختراع کاغذ در این کشور، برای اولین بار اسناد بانکی بطور منظم تهیه و ترتیب گردید.

سیستم بانکداری از قرن پنجم تا قرن پانزدهم میلادی:

این دوره که بنام قرون وسطی نیز یاد می گردد، سیستم تجارت و بانکداری که قبلاً به شکل گسترده وجود داشت، با سقوط امپراطوری روم کاملاً از بین رفت، سپس عرف بانکداری در این کشور دوباره رونق یافت.

بانکداری جدید از قرن پانزده به بعد:

در این دوره دادو ستد و تجارت در سواحل مدیترانه به خصوص در شهر فلورانس آغاز شد. به تعقیب آن کشف شدن امریکا و پیدایش راه های جدید دریایی، فعالیت های اقتصادی را از سواحل دریای مدیترانه به کشور های سواحل اوقیانوس اطلس مانند: فرانسه، انگلستان، اسپانیا و پرتغال گسترش داد. این همه پیشرفت ها توأم با خدمات گستردهٔ بانکی صورت گرفته و در این ایام بانک های محلی برای قبول سپرده های مردم و دولت کار میکردند، پرداخت وام و اعطای اعتبار از سوی بانک‌ها توسعه یافت، قدرت پولی این بانک ها به حدی توسعه یافت که حتی به پادشاهان وقت نیز قرضه می دادند.

بانکداری نوین که با تغییرات در بخش تکنالوژی معلوماتی و اطلاعات همراه بوده، ابزار بانکداری را متحول ساخته و سیر تحول سریعی را به پیش گرفته است که همچنان این روند رو به رشد می باشد. ارائه خدمات داخلی و بین المللی شعبات همه بانک ها در جهان به کمک سیستم های پیشرفته از طریق اتصال بانک های مختلف به یکدیگر صورت می گیرد. بانک ها با اتصال با یکدیگر از طریق سیستم ها توانسته اند تا تسیهلات را در عرضه خدمات به مردم فراهم سازند. این تحول نه تنها باعث شد که مشتریان بانک ها رضایت بیشتری پیدا کنند، بلکه نسل جدید از خدمات نیز بمیان آید.◙

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


1. www.ensani.ir
2. shopfile.ava.atesbr.ir
3. http://www.bertarinha.ir



# د زعفرانو د کښت

## وده کولی شي کرنیزسکتور پرمختللی کړي

هرات زعفران په نړیوالو سیالیو کې جوته کړې، چې له خورا ښه کیفیت او ارزښت څخه برخمن دي. دولت هم خپل کوښښ پیل کړی، چې زعفران د خاشخاشو د کښت ځای ونیسي، له همدې کبله دولت په ځانګړې توګه د کرنې او مالدارۍ وزارت هڅه کوي، چې زعفران د آسیایي هیوادونو ترڅنګ اروپایي ټولني غړیو هیوادونو ته صادر شي.

تردې مهاله سوداګر په شخصي توګه پرته له کوم قرارداد څخه افغاني زعفران هند، ترکیې او یوشمیر ګاونډیو هېوادونو ته لیږدوي او په همدې ډول بزګران هڅه کوي چې افغاني زعفرانو ته بازار موندنه ترسره کړي.

پکارده چې د سوداګرۍ وزارت له هغو هېوادونو سره، چې افغاني زعفرانو ته اړتیا لري، د یوه تړون له مخې د اړتیا وړ زعفران تولید او نړیوالو بازارونو ته یې ولیږدوي، په دې سره به هم بزګران د زعفرانو کښت ته مخه کړي او هم به د خاشخاشو په کرکیلې کې کموالی رامنځته شي.

دولت باید هڅه وکړي، څو افغاني زعفرانو غوښتنه او د راکړې او ورکړې بازار ډېر شي، او بزګران د زعفرانو د کښت په ترلاسه کولو سره د خاشخاشو له حرام کښت څخه لاس په سر شي.

د کرنې او مالدارۍ وزارت د راپورونو له مخې دهرات یو کیلو خالص زعفران له ۱۱۰ زرو تر ۱۳۰ زرو افغانیو بیه لري، چې په نړیوال بازارونو کې خپل ځای موندلی دی.

که چیرې د کرنې او مالدارۍ وزارت او په ځانګړې توګه افغانان غواړي، چې د

»

زعفرانو د کښت وده د خاشخاشو ځای ناستي کښت شی، په لومړي قدم کې باید بزگرانو سره مرسته وشي او وهڅول شي، چې د زعفرانو کښت په موخه پانگه اچونه ډیره کړي، ځکه زعفران ډیرې پانگې ته اړتیا لري، چې د افغانستان اقتصادي حالت ته په کتو بزگران د دې پانگې جوگه نه دي، او د دوو کلونو په تېریدو سره بزگر توانیږي، چې خپل د خوښې وړ عاید ترلاسه کړي.

په دوهم پړاو کې دولت د زعفرانو د تولید اسباب ترڅنگ د عامه پوهاوي په برخه کې له بزگرانو سره مرستې ته زور ورکړي، د دې لپاره، چې د افغانستان زعفران په نړیواله کچه له خورا ښه کیفیت او ارزښت څخه برخمن دي.

د رسنیزو رپوټونو له مخې د تاریاکو کښت او تولید د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ میلادي کال په لړ کې د ودې په حال کې وو، چې د تېرو کلونو په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالی موندلی دی، او دا وده د ۲۰۱۷ میلادي کال په لومړۍ ربعه کې هم په خپل ځای پاتې شوې ده.

د کرنې او مالدارۍ وزارت د څیړنیز راپور له مخې، چې د تېرو کلونو په پرتله روان کال زعفرانو تولید کې زیاتوالی راغلی او له ۳.۵ ټنو څخه نږدې اتو ټنو ته رسیدلې او تېر کال ۶۵۰ هکتاره ځمکه کې زعفران کرل شوي ول چې روان کال یې اندازه له اوو سوو هکتاره څخه اوښتې دی.

د څېړنې او پلټنو له مخې اوس مهال د تاریاکو تولید، د بزگرانو اړتیاوې بشپړولی شي او لږ تر لږه بزگران د دې کښت له امله د خپل یو کلني کاري زحمت مزد اخیستلی شي، خو که راتلونکې کې زعفرانو کښت وده وکړي کیدلی شي له تریاکو څو برابره عاید ښه وي.

که چیرې دولت او نړیواله ټولنه و غواړي، چې زعفران د خاشخاشو ځای ناستي کښت وي: لومړی باید زعفرانو ته د خرڅلاو او غوښتنې په موخه نړیوال بازارونه پیدا کړي او ترهغه وروسته بیا د هرات د زعفرانو د کیفیت او اهمیت ټاکلو په موخه لابراتوارونه جوړ شي، څو گاوندي هېوادونه د افغانستان با ارزښت زعفراني تولید په بې کیفیته تولید چټل نه کړي.

په هرات کې د زعفرانو ټولنې اندیښنه ښودلې، چې بې کیفیته زعفران له نورو هېوادونو افغانستان ته را دننه شوي او غواړي، چې د افغانستان تر مارك لاندې بې کیفیته زعفران نورو هېوادونو ته صادر شي، چې دا به د اوږد مهاله لپاره د افغاني زعفرانو تولید او سوداگري له لویو خنډونو سره لاس او گریوان کړي.

دولت او نړیوالې ټولنې هڅه کوي چې زعفران کښت زیاتوالی وموي، نو د دې لپاره پکارده چې د زعفرانو په اړه له بزگرانو سره د سب سایدي مرستې ترسره شي ، بزگرانو ته د زعفرانو د کښت په اړه عامه پوهاوی ورکړل شي او بزگرانو سره ژمنې ترسره شي، چې د زعفرانو لپاره بازار موندنې ته اړتیا نشته او ټول زعفراني حاصلات یې په ښه بیه ترې اخیستل کیږي.

په داسې حال کې دولت هڅه کوي، چې د زعفرانو کښت د خاشخاشو ځای ناستی کښت وي، چې یوازې زعفران نه دي، چې په نړیواله کچه شهرت لري، د دې ترڅنگ د بدخشان زیره هم بل کرنیز محصول دی، چې په نړۍ کې خپل ځای پیدا کړی او ټوله نړۍ د افغانستان کرنیزو محصولاتو ته اړتیا لري. که چیرې افغان بزگران وتوانیږي، چې خپل کرنیز سکتور پیاوړی کړي افغانستان به د کرنیزو محصولاتو له لارې ځان بسیاینې ته نږدې شي او د آسیایې هېوادونو ترڅنگ اروپایې ټولنه به له افغاني کرنیزو محصولاتو گټه پورته کړي.▣

# د شاخص عدد Index Number څه ته وايي؟

امان الله ورین

وروستۍ برخه

د شاخص عدد په جوړولو کې ستونزې

(Difficulties in Construction of Index Number)

لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه د شاخص عدد جوړول خورا پېچلې پروسه ګڼل کیږي او یوازې د پیسو په ارزښت او یا هم د ژوند کولو په لګښت کې د تغییر په موخه نه جوړیږي، بلکې د مزد او معاش، صادرات او واردات، روزګارتیا، صنعت او نورو برخو کې د رامنځته شوي بدلون د سنجولو په موخه هم ترینه ګټه پورته کیږي، د شاخص عدد جوړول ډیری وخت د یو لړ لویو ستونزو سره مخ کیږي چې په لاندې ډول یې تر بحث لاندې نیسو:

۱. په اقتصاد کې د هر توکي د اهمیت ټاکل او وزن ورکول خورا ستونزمن کار ګڼل کیږي.

د ساري په توګه: د غریبې طبقې لپاره د مشروباتو په پرتله اوړه او وریجې ډیر ارزښت لري، خو د شتمنو خلکو لپاره بیا موټر او په ژوند کې د اسانتیاوو رامنځته کولو نور توکي اړین ګڼل کیږي.

۲. دویمه ستونزه دا ده چې په بیلا بیلو کلونو کې د بیلا بیلو توکو او خدمتونو په رانیولو باندې د وګړو د لګښت اندازه هم توپیر لري، دا په دې معنی چې د یو کال په پرتله بل کال ته د لګښت اندازه توپیر کوي او لګښت په عین اندازه نه پاتې کیږي، نو په دې توګه د پیسو په ارزښت کې تغییر اندازه کول هم خورا ستونزمن کار ګڼل کیږي.

۳. د اساس کال ټاکل هم خورا لوی ستونزمن کار ګڼل کیږي، دا ځکه چې په بیلا بیلو کلونو کې اقتصادي کړنې او د بیو کچه یو له بل سره توپیر لري، نو له همدې امله دا ستونزمن ګڼل کیږي چې د اساس کال په پرتله به په اوسني کال کې د بیو په کچه کې رامنځته شوی بدلون سمه پایله ولري او د پیسو په ارزښت کې به رښتینی بدلون په ګوته کړي.

۴. د اوسیدلو د لګښت شاخص اندازه کول هم خورا ستونزمن کار ګڼل کیږي. دا ځکه چې په ټولنه کې د وګړو بیلا بیلې طبقې بیلا بیل توکي کاروي او همدارنګه د اهمیت په پام کې نیولو سره بیلا بیل وزن ورکوي.

او یا هم په بله اصطلاح، د دې لپاره چې په ټولنه کې د اوسیدلو د لګښت واقعي شاخص وسنجوو نو دا شاخص باید د هر وګړي، هرې کورنۍ او طبقې لپاره بیل بیل وسنجول شي، دا ځکه چې د وګړو ذوق، د کورنیو لویوالی او د طبقو عوایدو اندازه له یو بل سره توپیر لری. خو دلته دا خبره هم اړینه ګڼل کیږي چې په ټولنه کې د هر وګړي، کورنۍ او طبقې لپاره د اوسیدو د شاخص عدد سنجول هم ناشونی ګڼل کیږي.

۵. کله چې په بیلا بیلو وختونو کې د پیسو د پیر ځواک پرتله کوو، نو د دې لپاره چې د بیو په اندازه کې تغییر په درست ډول وسنجول شي، نو د توکو د توک (پرچون) پلورنې قیمت څخه ګټه پورته کړو، نو په دې برخه کې لویه ستونزه پیدا کیږي چې د توک پلورنې قیمتونه معمولاً یو شان نه وي او په بیلا بیلو سیمو او پلورنځیو کې توپیر لري.

د شاخص عدد د سنجولو په پروسه کې د پورته یادو شوو ستونزو سره سره دا هم د یادولو وړ ده چې د پیسو په ارزښت کې د رامنځته شوي بدلون اندازه یوازې او یوازې د شاخص عدد په مرسته سنجول کیږي.

د شاخص عدد کارول (The Use of Index Number)

د شاخص عدد د یو ټاکلي وخت په پرتله په بل ټاکلي وخت کې د پیسو په ارزښت کې د رامنځته شوي بدلون د

»

سنجولو لپاره خورا اړین ګڼل کیږي چې په ټوله کې اقتصادي حالت په ګوته کولی شي، خو د شاخص عدد د کارولو اصلي سیمې عبارت دي له:

۱. د شاخص عدد د پیسو په ارزښت کې رامنځته شوی تغییر په ګوته کیږي او همدارنګه د هغو توکو او خدمتونو اندازه هم په ګوته کوي چې د پیسو د یو واحد په مرسته پیرودل کیدای شي.

۲. په ټوله کې دولت، کاروبارونه او حتی کورنۍ د پیسو په ارزښت کې د احتمالي تغییر رامنځته کیدو په وړاندې حساسه وي او په دې ډول د پیسو په ارزښت کې زیاتوالي او یا هم کموالی په ټولنه باندې اغیز لري، نو له همدې امله د شاخص عدد سنجول د دولت لپاره د پالیسیو جوړولو او د کاروبارونو او کورنیو لپاره د لګښت د پلانونې په برخه کې خورا ګټور دی.

۳. په بیلا بیلو وختونو کې د یو ګروپ وګړو د اقتصادي حالت مالومولو او پرتله کولو په برخه کې هم خورا او ګټور موضوع ګڼل کیږي.

۴. د اوسیدلو د لګښت شاخص مالومولو، د مزد او معاش په برخه کې د بدلونونو راوستلو په برخه کې هم د شاخص عدد سنجول هم د دولت او هم د کاروبارونو لپاره خورا ګټور لارښود ګڼل کیږي.

۵. د قیمت د شاخص عدد د کاروبارونو او تولیدونکو لپاره اړین لارښود ګڼل کیږي، کاروبارونه او تولیدونکي د توکو او خدمتونو په قیمت کې د رامنځته شوي بدلون په پایله کې د تولید په مقدار کې د بدلون راوستلو پریکړه کوي.

۶. د پانګه اچوونکو لپاره د پانګونې په وړاندې د خالص حاصل ( ګټې) مالومولو لپاره د پانګونې د شاخص عدد سنجول هم خورا لوی لارښود ګڼل کیږي.

۷. په بیلا بیلو هېوادونو کې د صادراتي او یا هم وارداتي توکو د عمومي قیمتونو په کچه کې د بدلون مالومولو لپاره په نوموړو هېوادونو کې د نړیوال قیمت د شاخص عدد سنجول هم خورا ګټور لارښود ګڼل کیږي.

۸. د کاروبارونو او تولیدونکو له لوري د کارکوونکو د مزد او معاش په اندازه کې د زیاتوالي په موخه هم د عدد شاخص سنجول هم خورا ګټور لارښود ګڼل کیږي.

۹. د هېواد د پولي بنسټونو لپاره د بیو په عمومي کچه کې د ثبات رامنځته کولو او همدا راز د اقتصادي ودې د هڅولو او ساتلو په موخه هم د شاخص عدد سنجول خورا ګټور لارښود ګڼل کیږي.

### د شاخص عدد محدودیتونه

### (Limitations of Index Number)

لکه څرنګه چې پوهیږو د شاخص عدد د بیلا بیلو موخو د ترلاسه کولو لپاره ګټور لارښود ګڼل کیږي، خو د شاخص عدد په وړاندې یو لړ محدودیتونه شتون لري چې په لاندې ډول ترینه یادونه کوو:

۱. د شاخص عدد مطلق بدلون نه، بلکې یوازې تقریبي پایله په ګوته کوي، نو په دې توګه ویلای شو چې د شاخص عدد د بدلون کلي تصویر هم نه په ګوته کوي.

۲. دا چې د بیو په برخه کې د بدلونونو مالومولو په موخه د ټولو توکو په بیو کې رامنځته شوي بدلون نه شو پیدا کولای، نو د بیو د شاخص عدد هم د بیو بدلون کلي تصویر نه په ګوته کوي.

۳. په بیلا بیلو هېوادونو کې د صادراتو او یا هم وارداتو په موخه د توکو د بیو په عمومي کچه کې بدلون سنجول هم ناشونی کار ګڼل کیږي، نو په همدې موخه په بیلا بیلو وختونو او هېوادونو کې په اساس کال کې د توکو او خدمتونو کیفیت او کمیت باید یو شان په پام کې ونیول شي چې دا بیا هم ښه پایله نه شي ورکولای.

۴: دا چې د ټولنې د بیلا بیلو سیمو او طبقو د ذوق او عوایدو په پام کې نیولو سره د توکو اهمیت هم یو شان نه وي، نو له همدې امله توکو ته وزن ورکول هم ډېر ستونزمن ګڼل کیږي.▣

# نگاه اجمالی به پیدایش کارت های اعتباری

کارت های اعتباری بانکی که امروز در اکثریت نقاط جهان مورد استفاده مردم قرار میگیرند، از سال ۱۹۴۹ میلادی منتشر شده اند که در اینجا به طور مختصر به تاریخچه و انواع مشهور آن اشاره می نمائیم.

برای اولین بار شرکت دینرز کلاب در سال ۱۹۴۹ اولین کارت اعتباری را جهت خریداری کالاها اختراع نمود. در آن هنگام این کارت تنها مورد استفاده ثروتمندان قرار میگرفت، که آنها از آن در پرداخت هزینه های سیر و سیاحت و رفع سایر نیازها و خریداری ها استفاده می‌نمودند.

سپس، یک بانک امریکایی در سال ۱۹۵۰ میلادی اولین کارت اعتباری عمومی را منتشر کرد. برای اینکه این بانک بتواند با شرکت دینرز کلاب رقابت نماید، امکان استفاده از این کارت را در سایر بانک ها مساعد ساخت. سرانجام بعد از گذشت زمان و فراز و نشیب های فراوان، کارت اعتباری این بانک مورد توجه همگان قرار گرفت که در حال حاضر ما آنرا بنام ویزا کارت می شناسیم.

سایر کارت های شناخته شده امروزی که با ویزا کارت رقابت دارند، می توان از امریکن اکسپریس کارت که در سال ۱۹۵۸ میلادی و ماستر کارت که در سال ۱۹۶۶ میلادی منتشر شده اند، یادآوری نمود. گرچه امروز در جهان شرکت های دیگری هم وجود دارند که انواع مختلفی از کارت های اعتباری را عرضه می دارند، اما تعداد کارت‌های صادر شده در جهان به تفکیک نشان می‌دهد که شرکت ویزا کارت با داشتن حدود ۸۸۵.۵ میلیون کارت اعتباری در گردش، در سراسر جهان در سال ۲۰۱۲ میلادی موقف اول را داشته و شرکت ماسترکارت با داشتن ۷۲۱ میلیون کارت در گردش در جهان در عین سال مقام دوم را از آن خود نموده است.

در مورد کارت های اعتباری ویزا کارت و ماستر کارت باید گفت که این شرکت ها از لحاظ ارائه خدمات تفاوت چندانی با هم ندارند، تنها در موارد جزئی مانند تعداد اماکن و عابر بانک‌ها با هم متفاوت اند، اما آنچه مهم است انواع مختلف کارت های است که این دو شرکت ارائه

»

می نمایند. بطور نمونه می توان گفت، ویزا کارت، کارت های طلایی و کلاسیک و یا هم ماستر کارت، کارت های استندرد و طلایی دارند و تفاوت میان این دو به ویژه گی های آنها بر می گردد. ویژه گی‌های این دو نوع کارت عبارت از میزان برداشت پول از کارت و میزان کاربرد در بدل هر پرداخت آنلاین می باشد. بطور نمونه یکی از مزیت های که ویزا کارت طلایی نسبت به کارت کلاسیک دارد، میزان برداشت بالاتر آن می باشد. اگر سقف برداشت در ویزا کارت کلاسیک روزانه ۲،۰۰۰ دالر باشد؛ میزان برداشت روزانه ویزا کارت طلایی ۴،۰۰۰ دالر در روز خواهد بود.

ویزاکارت در واقع تنها شامل مشخصات مندرج بروی کارت برای پرداخت است که به آدرس ایمیل خریدار ارسال میگردد، ویزا کارت ماهیت فزیکی نداشته و در معاملات انترنتی از طریق فکس یا تیلفون مورد استفاده قرار میگیرد.

کاربرد این نوع کارت در انترنت مانند کارت پلاستیکی می باشد، تنها تفاوت در این است که می‌توانیم بعد از اینکه مشخصات کارت را دریافت نمودیم و به اندازه پولی که در حساب خود داریم، پول پرداخت نموده و یا خریداری های خود را انجام دهیم. در کنار کارهای یاد شده، می توان ویزا کارت را در برداشت پول از دستگاه های خود کار صرافی (ATM) نیز استفاده نمود.

جهت معلومات مزید باید گفت که شرکت ماستر کارت یک شرکت ارائه دهنده خدمات مالی امریکایی چند ملیتی است که مقر آن در شهر پورچس نیویارک امریکا می باشد، این شرکت از طریق پرداخت های بین البانکی و صدور کارت اعتباری به بانک ها جهت خریداری انواع کالاها یا خدمات کسب درآمد می نماید. این شرکت بعد از سال ۲۰۰۶ میلادی به یک شرکت چند ملیتی مبدل شده و در سراسر جهان فعالیت می کند.

ماستر کارت در بیشتر از ۲۳ میلیون مکان در سراسر جهان مورد استفاده قرار دارد و تفاوت چندانی با ویزا کارت ندارد، اما این دو شرکت با هم رقیب سر سخت هستند. در بسیاری کشورها جاهای وجود دارند که یا ماستر کارت و یا ویزه کارت را قبول می کنند، اما در بسیاری کشورهای دیگر هر دو را می پذیرند.

با نگاه مختصری به تاریخچه کارت های اعتباری می توان گفت که در ابتدا شرکت های صادر کننده کارت های اعتباری تنها یک نوع کارت صادر می کردند، اما امروز کارت های اعتباری متعدد و متفاوتی در سرتا سر جهان در نظام های بانکی شان وجود دارند که سهولت های زیادی را برای استفاده کننده گان فراهم ساخته است.▣

منابع:


1. https://www.asankard.com
2. www.ordervisa.com
3. https://powerdata.ir




**ګرانو هېوادوالو! افغانی، زمونږ د ملي هويت، وياړ او ځواک نښه ده**

د افغانستان بانک

# د افغانستان بانک خبرتیا!

**د افغانستان بانک ګرانو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې د افغانستان بانک د قانون د ۳۹ مادې پر بنسټ، هغه بانکنوټونه چې:**

## پر مخ یې لیکل او نقاشي شوي وي







## مهر یا پرله پسې سوري شوي وي







## وینځل شوي او یا د تیزاب او نورو کیمیاوي موادو له امله خراب شوي وي







## پر مخ یې سرېښناکه مواد کارول شوي وي




**د افغانستان بانک او د سوداګریزو بانکونو په ټولو نمایندهګیو کې پرته له کوم فیس د کارونې وړ بانکنوټونو باندې بدل کړي.**

**د افغانستان بانک د ۱۳۹۶ لمریز کال د زمري له ۳۱ نېټې وروسته د پورته ځانګړتیاوو درلودونکي بانکنوټونه له معاوضې پرته مصادره کوي.**

**مهم یادداښت: هغه بانکنوټونه چې د کارونې له امله زاړه او اسکاشتیپ شوي وي د ګردښت وړ دي.**

**افغانی؛ زمونږ د ویاړ، ځواک او د ملي هویت نښه ده!**

۰۲۰۲۱۰۲۲۰۷
۰۲۰۲۱۰۲۲۰۹

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال دهم شماره ۱۲۰، جوزا ۱۳۹۶

د افغانستان بانک



**ګرانو هېوادوالو! زموږ د هېواد پولي واحد، افغانۍ دي**